د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

بحث پاڼه

# د یوې افغاني ډموکراسۍ په لور ؟

## په افغانستان کې ډموکراتیک کولو د مفهوم سپړل

AREU

انا لارسن

د نوموړې څېړنې د بسپنې یوه برخه د افغانستان د پرانیستې ټولنې انستیتیوت (FOSIA)، له خوا برابره شوې ده

د ۱۳۸۸ کال د وږي میاشت

## د لیکوال په اړه

انا لارسن د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومت داری دډلې یوه څېړونکې ده او له ۱۳۸۳ کال راهیسې په افغانستان کې د حکومت داری او جندر د مسایلو په اړه کار کوي. دې د لندن د پوهنتون د SOAS، څخه د تاوتريخوالې، جګړې او پراختيا په برخه کې ماسټرې ترلاسه کړې ده.

## مننه

لیکواله له ټولو هغو ځواب ورکوونکو څخه چې په دې څېړنه کې یې د ګډون لپاره خپل وخت وقف کړ د زړه له کومې مننه کوي. نوموړې همدا راز د څېړنې له ډلې: محمد آصف کریمی، ناجیه حاجی زاده، محمد حسن وفايي، پروین ګینرابی او فرید احمد بیات څخه د معلوماتو په راغونډولو او شننه کې د دوی له ارزښتنا کو مرستو څخه خوښي څرګندوي. هغه همدا راز د بیا کتونکو له ډلې څخه د دوی د بصیرت نه ډکو تبصرو او وړاندیزونو احسان منده ده او له جې لمې څخه چې د دغې بحث پاڼې په بیا کتنه او تصحیح کې یې مرسته نه ده سپمولې هم مننه کوي. په پای کې هغه له مارتین وان بیجلرت، ریبیکا را برتس او پاولا کانتور څخه د زړه له کومې مننه کوي چې د څېړنیزې پروژې په بهیر او لا تر اوسه یې خپلې هر اړخیزې مرستې نه دي سپمولې.

انا لارسن

د ۱۳۸۸ کال د ورې میاشت

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارو مثبتې اغیزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والي دي.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ او دیو مدیره هیات درلودونکې دي چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند، ناروې، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، آسیایي بنیاد (TAF)، اروپايي کمیسیون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرې (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM)، او نړیوال بانک له خوا یې مالي ملاتړ کیږي.

## منځ پانګه


۱. لرلید ........ ۴

۲. کړندود ........ ۵

۳. پس منظر ........ ۶

۱،۳ ډموکراسي د نړیوال تمایل په توګه ........ ۶

۲،۳ په افغانستان کې د ډموکراټیکو سازمانونو تاریخي پس منظر ........ ۸

۴. په افغانستان کې د "ډموکراسۍ" تعریفونه، مفهومونه او تفسیرونه ........ ۱۳

۱،۴ ډموکراسي د "آزادۍ" په مفهوم ........ ۱۳

۴.۲ اسلامي/ لویدیځه ډموکراسي ........ ۱۵

۳،۴ ډموکراسي د قانون د حاکمیت او امن سره تړاو لري ........ ۱۸

۴.۴ دډموکراسۍ تړاو د بې وزلۍ د راټیټولو، اقتصادي پراختیا او مساوات سره ........ ۱۹

۵. د ټاکنیز بهیر تجربې ........ ۲۳

۱،۵ د استازیتوب بهیراو ځایونه ........ ۲۳

۲،۵ استازیتوب: وګړې او ګوندونه ........ ۲۶

۳،۵ د چا استازیتوب ........ ۳۱

۶. پایلې ........ ۳۳

# ۱. لرليد

په ۱۳۸۰ کې د طالبانو د رژيم له نسکوريدو او له هغې وروسته د بن د بهير له پيل راهيسې افغانستان (د نړيوالو مرستندويانو په مرسته) د ډموکراتيک کولو تخنيکي او سياسي بهير پيل کړی دی. په دې کې د حکومت د جمهوری سيستم بيا جوړول، د دوو مجلسونو درلودونکی پارلمان، ولايتي شوراګانې او د ټاکنو يو نوبتي پړاو شامل دي څرنګه چې ليدل کيږي د ټاکنو دويم پړاو په بشپړيدو بل پړاو پيل شو. د دغو ډموکراتيکو بنسټونو پر جوړښت او شتون د نړيوالې ټولنې له خوا خورا ټينګار شوی دی، خو يوه پوښتنه لا په ځای پاتې ده: (په ځانګړې توګه د ۱۳۸۸ کال له ټاکنو وروسته) د دغو هڅو په سر کې او له هغو وروسته، د افغانانو نظر د ډموکراسۍ په اړه څه دی؟[۱] پخپله "ډموکراسي" په افغانستان کې يوه بحث پارونکې اصطلاح ده، او تر يوې مودې پورې ده. دغه اصطلاح د ډيرو افغانانو له خوا په او سنيو شرايطو کې د بې حده ټولنيزې خپلواکۍ په مفهوم تعريف شوې ده، او د سياسي ډموکراتيک سيستم د تړاو له کبله د لويديځې ليبرال ارزښتونو سره، يو منفي مفهوم يې ګټلی چې د لويديځ ضد عامه خپرو بحثونو کې ډير ځلې د ټينګار سره او ريدل کيږي. دغه راز، ،ډموکراسي په پراخه توګه له "بد لمنۍ" او "بې دينۍ" (secularism) سره تړلې ګڼل کيږي، او دا نه يوازې د لويديځ ټولنيزو ارزښتونو د منفي مفهوم له کبله بلکې د افغانستان د خلکو ډموکراتيک ګوند تر مشرۍ لاندې شوروی پلوې رژيم (۱۹۸۰ لسيزه) د بې دينۍ د احتدا پايله هم وه. برعکس، د خلکو د رايو پر بنسټ د ټاکل شوي حکومت مفهوم د "اسلامي ډموکراسۍ" يا "د اسلام په چوکاټ کې ډموکراسۍ" د نظريې په توګه په پراخه توګه ستايل کيږي. دغه اصطلاح ګانې په راز راز ډولونو تعريف شوې دي، خو په ښکاره ډول د نړيوال خوځښت د برخې په توګه په حکومت کې د عامه ګډون په لوړې د افغانانو غوښتنه څرګندوي.

د ډموکراسۍ د تعريف تر څنګ بله مهمه مساله د سياسي استازيتوب مساله ده. د استازيتوب د کيفيت په هکله ډيره نارضايتي موجوده ده (په ملي شورا او ولايتي شوراګانو کې) او داسې بريښي چې په دې کې هم ځواکمن کسان او هم هغه سيستم ګرم بلل کيږي چې دوی د هغه يوه برخه جوړوي. د ډير وکسانو لپاره د استازيتوب په هکله د قضاوت معيار د استازو فزيکي او شخصي وړتيا د خدمتونو په برابرولو کې ده د دې پر ځای چې د دغو خدمتونو د برابرولو لپاره پر حکومت فشار واچوي سربيره پر دې، په دې څېړنه کې د ډيرو ځواب ورکوونکو لپاره، په ځانګړې توګه د کليوالو سيمو خلکو لپاره استازيتوب دې ته وايي چې هغه کس چې د خلکو له خوا ټاکل شوی دی بايد د محلي ستونزو څخه ښه خبرتيا ولري او د هغوی د هوارولو لپاره هڅه وکړي هغه څوک چې د دې ټولنې سره پوره بلديت يا اشنايي و نلري هغه نه شي کولای چې د هغې ټولنې "رښتينی استازيتوب" وکړي. په پای کې، د انفرادي انتخاب د ماهيت لويديځ مفهوم په ځانګړې توګه په کليوالو سيمو کې هغه وخت تر پوښتنې لاندې راځي چې، چې استازيتوب ته د يوه ټوليز عمل په سترګه کتل کيږي.

دغه بحث پاڼه د ډموکراسۍ او دموکراتيک کولو لرليد د افغانستان په دريو ولايتونو کې راسپړي،[۲] او پر دوو مهمو موضوعي سيمو له تمرکز څخه وړاندې د يوه نړيوال خو ځښت په توګه د ډموکراسۍ شاليد او په افغانستان کې د هغې سرچينې ته لنډه کتنه کوي: د "ډموکراسۍ" د اصطلاح تعريفونه، تعبير او تفسير او د ټاکنيزو بهيرونو په هکله د ځواب ورکوونکو او سنۍ تجربې. نوموړې سند دغه مسالې د ۱۳۸۸ کال له ټاکنو سره په رابطه کې او تير حال ته په کتنې سره يې ارزوي. نوموړی سند په دې هکله چې څرنګه په افغانستان کې بايد ډموکراتيک کول پياوړې شي داسې کوم وړانديزونه ی يا د حل لپاره سپارښتنې نه وړاندې کوي، بلکې دا نيت لري څو د افغان ډموکراسۍ د بيلا بيلو مفهومونو او د راتلونکې ډموکراسۍ په اړه بحث پرانيزي.

---

[۱] کابل، بلخ او پروان ولايتونه

[۲] د "دموکراسي" کله د لومړی ځل لپاره د ميلاد څخه پخوا د ۵ پيړۍ په شاوخوا کې را مينځ ته شوې وه او د يونان په ځينو ايالتي دولتونو کې د سياسي سيستم لپاره کارول شوې ده. په يونان کې د ډموکراسۍ د تاريخ په باب وګورئ: کورت ای- رافلوب، يوسای روبر او روبرت ای والاس، په لرغونی يونان کې د دموکراسۍ تاريخ (برکلی، لاس انجلس او لندن، د کلفورنيا د پوهنتون چاپ، ۱۳۸۲). که څه هم د دموکراسي کلمه په يونان کې را مينځ ته شوې ده، د ډله ايزې پريکړې کولو ريښې او "جمعي دموکراسي" ۲۰۰۰ کاله پخوا د اسيا په ځينو برخو کې ليدل شوی دي. وګورئ: جان کيان، د دموکراسي ژوند او مرګ (لندن: سيمون او شوستر، ۱۳۸۸).

# ۲. کړندود

## د دې سند د لوستلو په وخت کې باید پنځه ټکي په پام کې ونیول شي:

۱. د دې څېړنې لپاره معلومات د کابل، بلخ، او پروان د ولایتونو په کلیوالو او ښاري سیمو کې د شپږو میاشتو څخه په زیاته موده کې راغونډ شوي دي. په ټولیز ډول ۲۹ نیمه جوړښتي کیفي مرکې له وګړو سره (۳۲) او ډله ایزه مرکې (۳۳ ډلې چې په هره ډله کې له ۳ تر ۱۵ ځواب ورکونکو برخه درلوده) چې د بېلابېلو توکمیزو او ټولنیزې سابقې درلودونکو ښځو او نارینه وو استازو په ګډون ترسره شوي دي. ، په دې څېړنه کې له ښوونکو، زده کوونکو، مذهبي عالمانو، د مدني ټولنې له استازو، سوداګرو، د ټولنې له مشرانو او د سیاسي ګوندونو له غړو سره مرکې تر سره شوې دي.

۲. څرنګه چې معلومات یوازې له دې سیمو څخه چې په عمومي توګه د امن سیمې دي او د هیواد شمالي او مرکزي برخو کې پرتې دي، نو په دې توګه د نوموړې څېړنې څخه لاس ته راغلې موندنې د ټول افغانستان استازیتوب نه شي کولای. د دې پروژې په دوام بله څېړنه هم د هیواد په سویل او ختیځ کې په پام کې نیول شوې ده.

۳. زیاتره مرکې له داسې کسانو سره تر سره شوې دي چې که چیرې یې ډیرې زده کړې نه وې کړې خو لږ تر لږه لومړنۍ زده کړې یې درلودلې. څو تنه یې نا لوستي وو نو له همدې امله دا څېړنه د افغانستان د زیاتو خلکو استازیتوب نه شي کولای. په داسې حال کې چې د نمونه اخیستنې په طرح کې دا څرګنده وه چې باید د لوستو او نالوستو کسانو سره په مساوي توګه مرکه و شي، خو د څېړنې ډلې ته اکثرا د حکومتي چارواکو له خوا داسې کسان د مرکې لپاره معرفي شوي وو چې فکر کېده چې کولای شي پوښتنو ته ځوابونه و وایي. دغه نیمګړتیاوې به په راتلونکې څېړنه کې چې په دې هکله به تر سره شي، په نښه شي. سره له دې په دغه بحث پاڼه کې هڅه شوې څو د هغو ځواب ورکوونکو نظریات چې مرکې ورسره شوې دي د هغې سیمې د نظریاتو د بیلګې په توګه معرفي کړي چې څېړنه پکې ترسره شوې وه.

۴. د وګړو او ډلو سره مرکې د پرانیستو پوښتنو سره چې د تیرو ټول ټاکنو مسألو سره پیل او د غیر رسمي خبرو اترو په څېر ترسره شوې دي چې په اصل کې د هغوی د واقعي تجربو په هکله د معلوماتو تر لاسه کول وو. د مقدماتي پوښتنو څخه ډډه شوې وه. په ځانګړې ډول په کلیوالو سیمو کې د دې سره د تړل شویو همکاریو د ماهیت له کبله ډموکراسۍ کلمه په پوښتنو کې په نیغه نه ده کارول شوې. له دې امله د څېړنې ډلې یا د دې انتظار ایستلی دی چې ځواب ورکوونکي پخپله دغه کلمه وکاروي، او یا یې هڅه کړې چې د استازو د ټاکنو او د حکومتي سیستم په اړه یې ډیره پلټنه کړې ده. د ډموکراسۍ کلمه په هغه توګه چې د ځواب ورکوونکو له خوا په کارولې شوې وه ثبت شوې ده.

۵. د ډموکراسۍ د درک په اړه تمایلاتو پېژندنه د موضوع په اړوند د خلکو د بدلون په حال کې لید لورې له کبله ګرانه چاره ده، دغه خبره هله څرګنده شوه چې په ځینو حالاتو کې کله چې به له مرکچیانو سره دوهمه مرکه تر سره کیده نو هغوی به هر ځل بیلا بیلې نظریې څرګندولې . د دې سند شننه ځینې هغو ګډو ټکو چې په بیلا بیلو لید لورو کې موجود وو د یوې ښې په توګه یې وړاندې کوي.

# ۳. پس منظر

## ۱,۳ ډموکراسي د نړیوال تمایل په توګه

ډموکراسي او ډموکراټیک سیاست له هغه راهیسې چې د لومړي ځل لپاره وکارول شود علمی څېړنو او ګروېږنو موضوع ګرځېدلې ده.[۳] څرنګه چې د دې موضوع په باب د ټولو لیکنو د سپړلو ځای نشته، خو اد افغانانوله نظره د ډموکراسۍ او ډموکراټیک کولو د مفهوم د روښانه شننې لپاره اساسي خبره دا ده چې په لنډ ډول څرګند شي چې دغه اصطلاحات د دې سند په متن کې په کومه معنی په کارول شوې دي.

د ډموکراسۍ لغوي مانا "د خلکو په لاس حکومت"[۴] او خورا مشهوریې "د خلکو حکومت، د خلکو په لاس د خلکو لپاره"[۵]. ډموکراسي په اصل کې یو سیاسي سیستم چې پکې د یوه هیواد وګړې د حکومت په ټاکلو کې برخه اخلي او هغه د خپلو رایو له امله مسوول ګڼي. دغه بنسټیز تعریف کیدای شي پراختیا ومومي او د عمومي رایې ورکولو حق هم راونغاړي چې په اصطلاح کې آزاد او منصفانه ټاکنې ورته ویل کیږي.[۶] د دې سند په ترڅ کې د ډموکراسۍ اصطلاح به په همدې مفهوم کارول شوې څو د مشارکتي سیاست استازی ډموکراټیک موډل څرګند کړي چې په اوسني وخت کې ډیرو وضع شویو ډموکراسیو بنسټ جوړوي.

په عام ډول، که څه هم چې "ډموکراسي" دغه راز یو لړ نور لیبرال ارزښتونه هم رانغاړي لکه د بیان آزادي، د مذهب آزادي (او په پراخ ډول د دولت او دین بیلوالی)، د ملکیت حق، د قانون حاکمیت او د جنسیت برابری.[۷] دغه ارزښتونه د بشري حقونو د نا څرګندې کټګورۍ کې هم راغلې دي چې هغه پخپله په ډیره ژوره توګه له ډموکراسۍ سره تړاو لري.[۸] سیاسي شنونکی فرید ذکریا استدلال کوي چې په ډموکراټیک ډول د دغو ارزښتونو یا حقونو سره د مشرتابه انتخاب "اساسي لیبرالیزم" کیدای شي چې یوه تیر ایستنه وي ، په خاصه توګه هغه وخت چې د هغو دولتونو چې ډموکراټیک دي او که نه دي تر مینځ د توپیر خبره را مینځ ته شي:

که په یوه هیواد کې د ازاد رقابت له لارې ډېر ګوندونه په ټاکنو کې برخه واخلي، موږ هغې ته ډموکراسي وایو... البته ټاکنې باید ازادې او منصفانه وي او د دغه کار لپاره د بیان د آزادی او د غونډو څخه ملاتړ اړین دی. دي. مګر که د دې لنډ تعریف څخه تېر شو او یو هیواد یوازې د دې لپاره ډموکراټیک وګڼو چې هلته د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او مذهبي حقونو د یوې بشپړې ټولګې تضمین کیږي، په دې ډول دغه کلمه د ددې پر ځای چې د یوې توصیفي کټګورۍ په توګه پاتې شي د ویاړنې په یوه سمبول بدلیږي.[۹] په څور وروستیو

---

۳ له یوناني کلمې، دیموس، یعنی خلک څخه

۴ ابرهام لینکولن، "ګیتیسبورګ ادرس" ۱۸۶۳

۵ فرید ذکریا، "د نالیبرالی دموکراسي پیدا ایښت"، (http://fareedzakaria.com/ARTICLES/other/democracy.html accessed 14 August 2008) لکه څنګه چې پاول کولیر هم ویلی دی ټاکنې چې "آزادي او منصفانه نه وي، دموکراسي" نه جوړوي، بلکه ټاکنې صرف د ټاکنو لپاره پاتې کیږي. پاول کولیر "جنګونه، توپکی او رایې: دموکراسي په خطرناکو ځایونو کې" (لندن: د بوډلی هیډ، 1388)، ۱۵.

۶ ذکریا، "د نالیبرالی دموکراسي پیدا ایښت"

۷ تونی ای‌وانز "که دموکراسي، نو بیا بشري حقونه؟" په دریمې نړۍ درۍ میاشتنۍ ۲۲، لمبر ۴ (1380): -۷۴۲۷۲۳

۸ ذکریا، "د نالیبرالی دموکراسي پیدا ایښت"، ۳.

۹ د تایلند شاهي قانون کولای شي یو شخص د پاچا د توهین له امله په ۱۵ کلونو حبس محکوم کړي. د وروستیو قضیو د لنډیز لپاره وګورئ: کیتی فونګ سون پرالرت او دارن شویتلر، "اعلی حضرت قضیې په تایلند کې"، رویټرز، ۲۸ لړم، 1388 په: http://www.reuters.com/article/worldnews/idustre57romt2009828 که څه هم په اساسي قانون کې احترام کول تعمیلی شکل نلري. http://thaiembdc.org/geninfo/monarchy/thaimonarchy.aspx

قضیو کې لکه په ۱۳۸۵ کال کې په فلسطین کې د حماس ډله ګوندونه یا مشران چې په ډموکراټیکه توګه ځواک ته رسیدلی دی، نشي کولای (اویا هم نه غواړي) چې لیبرال ونومول شي که څه هم چې په مشروع او ډموکراټیکه توګه ملی مشرتابه ته رسیدلې دي.

لکه چې ذکریا او نورو ورته اشاره وکړه اساسي مساله دا ده، که څه هم چې د ډموکراسي پرلور یو نړیوال تمایل د مینځ ته راتلو په حال کې دی خو هغه هیوادونه چې د ډموکراسۍ لار غوره کوي کولای شي د هغو ارزښتونو یا حقونو په وړاندې له دغې شان ستاینې ، ژمنې او لیوالتیا پرته، لکه څنګه چې لویدیځه وضع شوې یا لیبرال ډموکراسي یې د دغو ارزښتونو په وړاندې لري،دهغه اساسي سیاسي سیستم ستاینه او نمانځنه وکړي چې ډموکراسي یې وړاندې کوي. التبه دوی ښایې د دغو ارزښتونو ځینې یا ټول یې شریک کړي ، مګر دا نه شي انګیرل کیدای. سر بیره پر دې، دوی ښایې خپل ارزښتونه په هغو ور اضافه کړي (لکه په تایلنډ کې د بیلګې په ډول د سلطنت په وړاندې وضع شوې چال چلند۱۰) چې ښایې د واکمن ګوند له له خوا تایید شي یا نه شي.

دغه عنصر په خاص ډول افغان شرایطو سره سم ډموکراسۍ ته په پام سره چې هلته یو ډموکراټیک سیاست۱۱به غوره وي او یو شمیر لویدیځ چې په ښکاره ډول دې ته ترجیح ورکوي چې ځینې لویدیځ، غیر مذهبي ارزښتونه- خاصتا هغه ارزښتونه چې د انفرادي ازادي بیلا بیل ډولونه دي- ترې وباسي او په بدل کې یې هغه څه ته ځای ورکړي چې نه یوا ځې اسلامی بلکه خاص افغاني ارزښتونه ګڼل کیږي چې له نورو اسلامي هیوادونو څخه یې توپیر کیږي.

د "ډموکراټیک کولو" کلمه هم د یوې اصطلاح په څیر یوې لنډې توضیح ته اړتیا لري. په دې سند کې دغه اصطلاح د داسې یوې پروسې لپاره کارول شوې چې نوموړې هیواد (یا د هغه هیواد حکومت) هغه د حکومت کولو له دوهمو لارو(د بیلګې په ډول مطلق العنانه یا دیکتاتوری رژیمونه) او یا د داخلي جګړې وروسته د یوه ډموکراټیک سیاست پر لورې د بدلون موندلو له پړاو څخه وروسته یې پیل کړی وي. په دې پروسه کې د ډموکراټیکو سازمانونو را مینځ ته کیدو کې ښکیل دي، چې "آزاد او منصفانه ټاکنې"، ملی شورا ، ځایي دولتی جوړښتونه او یو شمیر نور کړندودونه چې خلکه او دولت تر مینځ اړیکې را مینځ ته کوي لکه سیاسي ګوندونه هم په کې راځي خو په هغه پورې نه محدودیږي. یواځې د نوموړو سازمانونوشتون د "ډموکراټیک سیاست" په رامینځ ته کیدو کې ونډه نه لري، مګر د دوی د کړنو د اصلاح کولو بهیر پخپله د ډموکراټیک کولو د بهیر مرکزي عنصر جوړوي.

باید وویل شي چې په دې تعریف کې ځینې نیمګړتیاوې هم شته. لومړی دا چې ډموکراټیک سیاست، په خپله یو محسوس او وروستنی موخه نه ده ، ښایي څوک په وضع شویو ډموکراسیو کې د ځینو سیاسي کړنلارو ډموکراټیک خصلت تر پوښتې لاندې راولي (لکه په امریکا کې د Corporate Lobbying یا په انګلستان یا ډیرو نورو اروپایي هیوادونو کې لومړی وزیر د خلکو د رایو له لارې نه بلکه د ګوند له خوا ټاکل کیږي).

ډموکراسي پخپله ټل یوه داسې پروسه ده- چې په بیلابیله توګه او په بیلا بیلو حالاتو کې په پرلپسې ډول بدلون مومي، نه دا چې ډموکراټیک هیوادونه د لویدیځ او نورو موډلونو سره په سیا لۍ کې دیو ثابت ټکي په توګه ورته د رسیدو هیله ولري. - دوهمه نیمګړتیا دا ده چې د افغانستان په ګډون په ګڼو هیوادونو کې د او په ځانګړې ډول هغه هیوادونه چې د ساموېل هنټینګټون (Samuel Huntington) د ډموکراټیک کولو د دریم غورځنګ(third wave of democratisation)،۱۲ برخه ده د ډموکراټیک کولو هڅې

---

۱۰ آر. لکهم، ای- ایم. ګویتخ او ایم کالدور، "دموکراتیک موسسات او دموکراتیک سیاست" په ایس باستیان او آر لکهم، کیدای شی چې دموکراسي طرح شي؟ "په جنګ ځپلو ملکونو کې د موسساتي انتخاب دموکراسي" (لندن: زیډ- ای بوکس، ۱۳۸۲).

۱۱ ساموېل هانګټنګټن، "د دموکراسي دریم موج" په دایموند او پلاتز، چاپ. د دموکراسي جهاني جنبش، (بالتیمور او لندن: د جان هاپکینز د پوهنتون چاپ، 1372)، -۲۵۳.

۱۲ توماس روتیک دا خبره څرګنده کړې ده چې ملګرو ملتونو او امریکا به دې کې څومره لوی نقش درلود چې په بیړنۍ لویه جرګه کې د حامد کرزي کسانو ته ډېر ځای ورکړي، دغه کار

اکثرا له بهر څخه واردېږي، د بېلګې په توګه مرستندویان مالي مرستې د شرطونو سره تړي (په ظاهري بڼه د یوې غیر سیاسي اصطلاح تر نامه لاندې "ښه حکومت داري"، ). دا یوه مسأله ده چې د ډموکراټیک کولو بهیر تر زیاته حده د مرستندویانو د درک پورې تړاو لري چې ډموکراسي باید څه وي. نو ځکه د یو شمیر هغو دولتونو د بیوزلۍ د کمولو د ستراتیژۍ په سندونو کې په لیبرال ارزښتونو باندې ډېر ټینګار کیږي لکه ښه حکومت داری، د جنسیت برابري او د خصوصي کول او داسې نور.

په افغانستان کې د مرستندویانو اقدامات د ډموکراسۍ او د ډموکراټیک کولو د بهیر په تعریف کې او له ډېره پخوا د دې هیواد د بیوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ د سند (PRSP) (د افغانستان د ملی پراختیایي ستراتیژی) په جوړولو خورا ارزښتناک دی. د بن د پروسې د پیل راهیسې بهرني نظریات ډېر محسوس وو، د بیلګې په ډول د حکومت د جمهوري سیستم په غوره کولو، په پارلمان کې د ښځو لپاره د څوکیو خوندي ساتل او تر ټولو مهمه- د هغو فعالینونو ټاکل چې د دې مسالو په باب په مباحثو کې د ګډون لپاره ور ګڼل کیدل.١٣

په دې رپوټ کې د دې بهیر د ورتیا او نیمګړتیاوو او نظریاتو په اړه د مرستندویانو پر شرطونو بحث نه شي کیدای. د هغې زیاتیدونکې نارضایتۍ سر سره چې په افغانستان کې د نړیوال حضور په هکله شته، خو د افغانانو او مرستندویه هیوادونو د خلکو له نظره داسې ښکاري چې له دې څخه وروسته د افغاني ډموکراټیک کولو د پروژې د لورې ټاکل یو مهم ټکي ته رسیدلی دی. پوښتنه دا ده: که د افغانستان ډموکراټیک کول رښتیا سره دایمی وي، بهتره به نه وي چې هغه ډموکراسي چې د دې هیواد لپاره په نظر کې نیول شوې د هغو ارزښتونو سره چې ډموکراسي یې باید له ځان سره ولري، په لومړی سر کې پخپله د دې هیواد د خلکو له خوا وټاکل شي؟١۴ د بل هر ځای په څیر، که څه هم، داسې کوم واحد عمومي نظر نشته چې افغاني ډموکراسي باید څنګه وي، د دې څېړنې په راټول شویو معلوماتو څخه داسې موضوعات را بر سیره شوي چې د څو په عمومي ډول تر سره شویو لرلیدونو چټکې پلټنې ته اړتیا ده..

## ٢,٣ په افغانستان کې د ډموکراټیکو سازمانونو تاریخي پس منظر ١۵

کله چې په افغانستان کې د ډموکراټیکو سازمانونو مینځ ته راتګ په پام کې وي، په لومړي سر کې اړینه ده چې د عصري سازمانونو چې د انتخابي حکومت لکه د عمومي رایه ورکونې حق او ټاکنیز پارلمان او د "ډموکراټیکه ناسته" لکه د محلي یا ملي پریکړې په

---

د لویې جرګې د خپلواک کمیسیون د خوښې په خلاف وشو. توماس روتیګ، اسلام پالونکی، چپې ډلې او منځلارې ډلې: د افغانستان سیاسي ګوندونه او د دوی تاریخي سیر ١٢٨١-١٣٨٠) (کونراد ادیناور موسسه ٢٠٠٧)، ٣٢ وګورئ. http://www.swp-berlin.org/en/forschungsgruppen.php?id=79&page=7&phpsessid=3c53935ba6d00923fff865bdeb7d 3f9e (accessed 8August 2008)

١٣ دغه پیښه یوه مساله رامنځ ته کوی کله چې د بین المللی دونرانو او د مرسته اخیستونکو ملکونو ارزښتونه په ټکر کې راشي، ځکه چې دوه اړخیزه دونران هم خپلو خلکو ته او هم د مرستې اخیتسونکو ملکونو خلکو ته باید ځواب ووایي. دا مساله یو دموکراتیک تناقض رامنځ ته کوي چیرې چې د غیر دولتی فعالینو سیاسی اداره د "خلکو له ځواک" سره په تصادم کې راځي. دغه تناقض په دې وروستیو وختونو کې په افغانستان کې د شعیه مذهب د پیروانو له خوا د کورنۍ د قانون په سر راښکاره شو (وګورئ: لورین اوتیس، "یوه نږدې کتنه: د شعیه مذهب د شخصه احوالو د قانون شاته د پالیسی او قانون جوړونې پروسه." (کابل: اریو، وری ١٣٨٨

١۴ تاریخي ماخذونه له: استا اولیزن، اسلام او سیاست په افغانستان کې (کرزن: سوری، ١٣٧۴)، برنیت آر اوبین، د افغانستان ټوټه کیدل: په بین المللی سیسټم کې د دولت جوړونه او زنګیدنه، (دویم چاپ) (د اکسفور پوهنتونه چاپ، ١٣٨١)؛ دینیز کاندینوتی، په افغانستان کې د جنډر او بیا جوړونې سیاست (یو این، آر ایس ډي- ژنیو، ١٣٨۴)، ٣١ وګورئ http:// unrisd.org (accessed 27 December 2006) او روتیګ، "اسلام پالونکی، چپیان او منځلارې ډلې"

١۵ د اصطلاحاتو په منځ کې توپیر د جان کیاني په ذریعه شوی دی، د دموکراسي ژوند او مرګ، خو د افغانستان د شرایطو په رابطه نه دی شوی. د افغانستان په اړه لوریس دوپیری جرګې ته د "ساده او تیارې دموکراتیکی موسسې" په څیر اشاره کوي، لوریس دوپیری، "د افغانستان کراره تګ د دمورکاسي په لور: د کابل د ښاروالی په ټاکنو باندې تبصرې،" د امریکا د پوهنتونونو د ساحې کارکوونکی، د جنوبی اسیا سلسله، ٧ شمیره ١. (افغانستان) (١٩٢٣): ٢.

موخه انتخابي کميټې په منځ کې توپير وشي.[۱۲] چې وروستۍ برخه کې جرګې، شوراګانې يا لويې جرګې راځي چې په افغانستان کې يې د اوږدې مودې راهيسې د حکومت داری د کړندود په توګه ترې کار اخيستل کيږي.[۱۷] که څه هم چې د استازې د مفهوم له مخې دا ه په بشپړ ډول يوه ډموکراټيکه طريقه نه ده (د جرګې غړي د خلکو د رايو له لارې نه ټاکل کيږي)، خو بيا هم د نوموړې ټولنې د بيلابيلو ډلو اړتياوې تر بحث لاندې نيول کيږي او چمتو کيږي. د پام وړ خبره دا ده چې په تېره پيړۍ کې په ډېرو پيښو کې د دې مجلس او انتخابي موسسو په منځ کې توپير نه دی شوی، د امان الله خان (۱۹۱۹- ۱۹۲۹) (۱۲۹۸-۱۳۰۸) سمون په ګډون (۱۲۹۹)، او په دې وروستيو کې د ټولنو د مشرانو هغه هڅې چې په پارلمان کې يې د څوکيو د ګټلو لپاره د خلکو رايې راغونډولې.[۱۸] سره له دې، په دې برخه کې مهم ټکی چې بايد ټينګار پرې وشي دا دی چې دډموکراټيکو حکومتونو که څه هم چې په اوسني مفهوم ټاکنيز نه دی، آن د امان الله خان له سمون څخه وړاندې يې هم شتون درلود.

که څه هم چې په افغانستان کې د ډموکراټيکو موسساتو رينښې د امان الله خان د عصري کولو له پاليسی څخه را مينځ ته شوې هغه د دار الامان مانۍ د جوړولو امر وکړ چې خپل په پام کې نيول شوی ټاکنيز پارلمان ته هلته ځای ورکړي. هلته بايد غونډې وکړي.[۱۹] که څه هم چې مخکې د پارلمان له جوړيدو څخه د هغه د ليبرالو ريفورمونو په وړاندې د محافظه کارانو د مقاومت او ور سره د انګليسانو لاسوهنو له کبله له حکومت څخه را وپرزيدو ، ، دې اصلاحاتو (د لومړي اساسي قانون تصويب او د دولتي شورا جوړول) په ۱۳۱۱ کال کې د نادر شاه د سلطنت په دوران کې يې ددوو مجلسونو درلودونکې شورا ته يې لاره هواره کړه.[۲۰] دغه مجلس د انتخابي او انتصابي غړو څخه جوړ شوی وو. د ۱۳۰۹ او ۱۳۱۹ کلونو کې دنخبه ګانو په ډلوکې سياسي فعاليتونه تنظيم شول چې يوې اصلاح غوښتونکې ډلې خپله ډله يې د سياسي ګوند په نامه يادکړ.[۲۱] د نادرشا زوی ظاهر شاه (د پلار له مرګه وروسته په ۱۳۱۲کال کې د پاچاهی پرتخت کښيناست) په ۱۳۲۸ کال کې د ټاکنو سره يې موافقه وکړه چې په پايله کې يې يو نوی "ليبرال پارلمان" جوړ شو.[۲۲] او د لومړی ځل لپاره د صدر اعظم شامحمود په وخت کې د مخالفو ډلو پر مخ پرانيستل شو. د ليبرال سياست تجربې له څلورو کلونو وروسته د مخالفو ګروپونو د شمير او مخ په زياتيدونکې قوت په وړاندې د حکومت د غبرګون ښودلو په پايله کې پای ته ورسيدې.

په ۱۳۳۲ کې محمد داود خان د يوې کورنۍ کودتا په پای کې د شا محمود په ځای صدر اعظم شو. له دې وروسته لسيزه کې که څه هم چې د سياسي عصري کولو بهير تم شوی وو خو ټولنيز اقتصادي پاليسيو او ښوونې او روزنې په برخو کې د پام وړ بدلونونه او برياوې

۱۲ په دې باب چې دغه موسسات له کومه وخت راهيسې موجود دي، مباحثه راوانه ده، مګر ټولې درۍ موسسې چې ياد ېد شوې دي په شلمه، پوويشتمه پيړۍ کې او ښايي له هغه ډېر پخوا يې رواج درلود. وګورئ، اويسن، اسلام او سياست په افغانستان کې او لوويزدويری، "د دموکراسۍ په لور کراره تګ"

۱۷ په دې باره کې د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: د نووا کابورن او انا لارسن تحليل چې د وروستيو ټاکنو به باب يې کړې ده او د اريو له خوا خپريږي (مرغومې ، ۱۳۸۸

۱۸ البته د هغو هڅو په منځ کې چې يو سياسي سيستم يا سياست عصري کول غواړي هغه هڅې چې هدف يې د هغو دموکراتيک کول وي بنيادي توپيرونه شته. دغه سند داسې استدلال کوي چې د سياسي دموکراتيک کولو رينښې کيدا ی شي د يو شمير نويو مشرانو په سياسي زده کړو کې وګورو چې په شلمه پيړۍ کې يې کړې دي. يو واقعي مثال چې دموکراسي ته يې په دې دوره کې وده ورکړه د ظاهر شا تر مشرۍ لاندې و چې د ۱۳۴۴-۱۳۵۲ يې دوام وکړ.

۱۹ نادرشا د ريفورم په لوری تګ ته ادامه ورکړه خو په عين وخت کې يې په ښکاره ډول ډېر هغه ريفورمونه مسترد کړی چې تر د مخه واکمنانو راوستي وو. اولين، اسلام او سياست په افغانستان کې، ۱۷۲. سره د دې هم، لکه څنګه چې کانديپوتی په "په افغانستان کې د جنډر او بيا ودانونې سياست" کې اشاره کوي هغه جوړجاړی چې ده له محافظه کاره مذهبي مشرانو سره وکړی په هغو برياوو باندې ډېره منفي اغيزه وکړه چې د ښځو د حقونو په برخه کې له هغه پخوا لاس ته راغلی وې.

۲۰ روتيک، "اسلام پالونکی، چپيان او منځلاری ګروپونه"، ۴.

۲۱ ټاکنې د صدر اعظم شامحمود له خوا تشويق شول او په ښاري مرکزونو کې د ښاروالی يو لړ ټاکنې وشوې، چې د مطبوعاتو ازادي او ځينو نورو شکلونو د سياسي ليبراليزم ته يې وده ورکړه، له دې امله "ليبرال پارلمان" نوم راپيدا شو، اولين، اسلام او سياست په افغانستان کې، ۲۰۲.

۲۲ اولين، اسلام او سياست په افغانستان کې ۲۰۳.

رامینځ ته شوې چې د منځنۍ طبقې خلکو د پیاوړتیا لامل شو.[۲۳] د **۱۳۴۳** څخه د مخه د دې اړتیا لیدل کیده چې د سیاسي ریفورم په برخه کې ددوی غوښتنو ته ځواب وویل شي[۲۴] او د ظاهر شاه په هڅه یو نوی اساسي قانون تصویب شو چې په ډموکراټیکه توګه یې د پارلمان انتخابیدل مشروط کړ. د **۱۳۴۴** او **۱۳۴۸** کلونو د ظاهر شاه د دورې د "نوې ډموکراسۍ" د برخې په توګه ټاکنې ترسره شوې.[۲۵]

په **۱۳۵۲** کې صدر اعظم محمد داود خان د یوې کودتا په پای کې یې شاهي رژیم نسکور او پر ځای یې د افغانستان جمهوریت اعلان کړ. د ظاهر شاه د وخت د **۱۳۴۳** کال اساسي قانون لغو شو او د یوه نوي قانون د تسوید په موخه په **۱۳۵۵** کال کې لویه جرګه را وبلل شوه. نوموړې جرګه د انتصاب شوو استازو څخه جوړه وه چې په ژور دقت سره یې د افغانستان د خلکو ډموکراټیک ګوند (PDPA) دوه ګوني ډلې له صحنې څخه ګوښه کړې. دغه ګوښه والې او له دې سره د اسلام غوښتونکو ډلو مخ په زیاتیدونکی مقاومت چې د افغانستان د خلکو ډموکراټیک ګوند نور هم کمزوری کړي ددې لامل شو چې د افغانستان شوروی پلوه د خلکو ډموکراټیک ګوند په مرسته د داود رژیم[۲۶] په **۱۳۵۷** کې نسکور کړي او په **۱۳۵۸** کال کې د شورویانو د یرغل لامل شو. د ببرک کارمل او نجیب الله تر مشرۍ لاندې لسیزه کې په ترتیب سره ډیره کمه سیاسي ازادي موجوده وه- د **۱۳۶۷** کال ټاکنې تر زیاتې اندازې پورې له وړاندې څخه ټاکل شوې ګڼل کیدې[۲۷]- او په ټولیزه توګه پایله یې د سیاسي مخالفینو نه زغم وو. د خلق او پرچم ډلو د واک په پرله پسې دورو کې د نورو مخالفو ډلو په وړاندې دغه نه زغم خورا پیاوړی وو. نجیب الله د **۱۹۸۰** لسیزې په وروستیو کې هڅه وکړه چې یو نیمه-څو ګوندیز سیستم جوړ کړي چې ددې را مینځ ته کیدل د خلکو پراخ ملاتړ ته یې اړتیا درلودله او یو اځې چپي ګوندونه وو چې د فعالیت اراده او وړتیا یې درلوده.[۲۸] په زړه پورې خبره دا ده چې په دې دوره کې د حکومت له خوا غوره شوې سوسیالستي موډل او چپي بحثونه چې په مساوات او د حکومت له خوا د خدمتونو په وړاندې کولو یې ټینګار درلود لا اوس هم تر زیاتې اندازې پورې د ډموکراسی په باب د عامه خلکو د ذهنیت او درک کې انعکاس مومي. (**۴.۴** برخه)

د **۱۹۹۰** لسیزې په لومړیو کې د نجیب الله د رژیم له را پرزیدو وروسته د مجاهدینو د بیلابیلو ډلو تر مینځ جګړې پیل او له هغه وروسته د طالبانو رژیم را مینځ ته شو. که څه هم چې د **۱۲۹۸** تر **۱۳۸۰** کلونو تر مینځ د یو ملي اساسي قانون او ټاکنو د رامینځ ته کیدو په موخه ډیرې هڅې تر سره شوې خو د افغان عصري سیاست په موخه دا هڅې د خپل د ودې په بیلا بیلو پړاوونو کې د سیاسي بلواوو، بغاوتونو او د مشرتابه لپاره د بیلابیلو غیر ډموکراټیکو سیالیو په واسطه شنډې شوې دي.[۲۹] دغه حالات ډیر ځله د فرعي فعالینو، له مخالفینو سره د ناوړه چلند، او بهرنۍ لاس وهنې پایله ده. په حقیقت کې د اساسي ډموکراسۍ تر ټولو اوږد پرلپسې پړاو چې د **۱۳۴۴** تر **۱۳۵۲** تر مینځ اتو کلونو په موده کې چې په حقیقت کې ډموکراسي پلوه دوره ورته ویلای شو. سره له دې د پرلپسې مشرانو د هڅو په پایله کې یوه بیلګه را (امان الله، ظاهر شا، داود خان او نجیب الله) منځ ته شوه او هغه د افغان سیاست د عصري کولو پیل وو، آن که ددوی د پالیسیو طبیعت په بشپړه توګه ډموکراتیک هم نه وو.

---

۲۳ الوین، اسلام او سیاست په افغانستان کې ۲۰۳.

۲۴ ویلیم مالی او فضل حق سیقل، په افغانستان کې له کمونیستانو وروسته سیاسي نظم (بدلدر او لندن: لونی رینز، ۱۹۹۲)، **۱۵**.

۲۵ په دې کې څه شک شته چې کومې جناح (خلق او که پرچم) په دې بدلون کې لویه ونډه درلوده، ځکه دواړو په عین وخت کې دغه پلان درلود. روبین، د افغانستان ټوټه کیدل، **۱۰۵**.

۲۶ دوتیک، "اسلام پالونکی، چپیان او منځلاری ګروپونه" ۱۴

۲۷ دوتیک، "اسلام پالونکی، چپیان او منځلاری ګروپونه" ۳۱-۱۴

۲۸ کندییوتی، په افغانستان کې د جند او بیا جوړونې سیاست، په دې مساله باندې د لیبرالستي رفورمونو په وړاندې چې په تیره پیړۍ کې یې د ښځو له حقونو څخه ملاتړ کړی دی، د پرلپسې محافظه کارانه مقاومت په باب لیکلی.

۲۹ د یادونې وړ ده چې دغه "نوی اساسي قانون د ډیرو موادو له نظر د **۱۹۲۴** کال د اساسي قانون سره ورته والی لري"

په ۱۳۸۰ کې د بن پروسه پيل شوه، چې يو نوی اساسي قانون يې تصويب کړ چې د لويې جرګې[۳۰] له خوا تسويد شو او د يو ټاکنيز پړاو جزئيات يې ځرګند کړ چې د هغه پر بنسټ به افغان ولس ته دا فرصت برابر کړ شو د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۳ کال کې د ټولټاکنو له لارې خپل ولسمشر وټاکي. له دې ټاکنو وروسته په ۱۳۸۴ کال کې د عامه رايو له لارې ملي شورا او ولايتي شوراګانې بيا رامينځ ته شوې. د افغانستان نوی ټاکل شوی حکومت يا لږ تر لږه ډموکراټيک سازمانونه چې د هغه د ودې لپاره لاره هواروي د نړيوالې ټولنې په لارښوونه او د دوي په مالي مرسته جوړې شوې.

په دې هکله چې ولې په له جګړې وروسته يوه هيواد کې چېرې چې د بې سوادی کچه خورا لوړه او د ملي ټولټاکنو په بڼه عمومي رايه ورکونې سابقه هم ډيره لږه وه په سملاسي توګه ټاکنې تر سره شوې، ډير زيات بحثونه روان دي. دغو بحثونه په دې هکله چې هيوادونو په کومو شرايطو کې د ډموکراټيک کولو بهير د پيل لپاره تيار دي د يوبل ټوليز بحث سره په يوه وخت کې تر سره.[۳۱] سره له دې چې افغانانو هر وخت د رايې ورکولو له فرصت ځخه د بدلون د سمبول په توګه يې هرکلی کړی دی او د ولسمشری په ټولټا کنو کې ځه د پاسه ۸۰ سلنې خلکو برخه واخيسته. په خواشينی سره له ۱۳۸۴ کال راهيسې د خلکو د باور کچه د حکومت پر اوسني سيستم او پخپله د حکومت په اړه خورا را ټيټه شوی دی. دغه پاڼه د افغانانو په آند د "ډموکراسی" مفهوم او د مرکه شويو کسانو له نظره اوسنۍ "ډموکراتيک" سيستم را سپړي.

## په افغانستان کې د ټاکنو نېټې

۱۳۱۰: د ۱۳۱۰ کال اساسي قانون چې د نادرشاه له خوا جوړ شو، يوې ملي ټاکل شوې شورا ته لاره هواروي. قانون د هر و دريو کلنو په موده کې د يوې لويې جرګې رابلل يې چې د ټولو قومونو استازيتوب وکړي تصويب کړ. د شرعي قانون د تفسير له مخې ښځو د رايې ورکولو حق يې نه درلود.

۱۳۱۱: د لومړي ځل لپاره د دوو مجلسونو درلودونکې ملي شورا جوړول.

۱۳۱۱: نادرشاه ووژل شو او پر ځای يې ظاهر شاه پر تخت کښيناست.

۱۹۴۰ لسيزه (۱۳۱۹) کې: د "ځوانو افغانانو" ډلې چې د سياسي اصلاحاتو، ملي شورا ته د خپلواکو ټاکنو او پر حکومت يې د پارلمان دزيات کنټرول غوښتونکې وو.

۱۳۲۸ د صدر اعظم شاه محمود خان په وخت کې د ملي شورا لپاره لومړنۍ نسبتاً آزادې (يا تر لږ کنټرول لاندې) ټاکنې. "ليبرال پارلمان" چيرې چې مخالفو ډلو ته د فعاليت لاره هواره شوه جوړ شو. د مطبوعاتو د آزادی قانون تصويب شو. دغه دوره د سياسي آزادی د آزماينښت د دورې په نوم ياديږي.

۱۳۳۱: دټاکنو دوهم پړاو د شاه محمودخان په وخت کې تر سره شوې چې د لومړنيو ټاکنو په ځير آزادې نه وې، او د مخالفينو د پياوړې کيدو او په حکومت د نيوکو له امله ترينګلتياوې را وپاريدې او په پای کې د حکومت له خوا د مخالفو ډلو په منلو پيل وکړ.

۱۳۳۲: کورنی کودتا- داود خان شاه محمود خان له حکومته را وپرځاوه ځکه چې مطبوعاتو او مخالفو ډلو له خوا پر حکومت نيوکې زياتې شوې وې.

---

۳۰ رولاند پايس، د جنګ په پای کې: له داخلي جګړې وروسته د سولې جوړول (نيويارک: د کامبريج د پوهنتون چاپ، ۱۳۸۳).

۳۱ د دموکراسی او بين المللی مرستې لپاره جهاني انستيتوت (IDEA) د احصايې له مخې برخه اخيستنه نږدې ۸۳٪ کې وه. خو ځرنګه چې په افغانستان کې لا تر اوسه دقيقه سر شميرنه موجوده نهده، دا يوازې کيدای شي يو اټکل وي "افغانستان ته يوه کتنه" (IDEA, 2008 http://www.idea.int/vt/country_view.cfm?countrycode=AF)

**۱۳۳۲- ۱۳۴۲:** تولنیز اقتصادي اصلاحات او په ښوونه او روزنه ټینګار د منځنۍ طبقې د ودې لامل شو. په **۱۳۴۱** کال کې په کابل کې د ښاروالی لپاره ټاکنې تر سره شوې.

**۱۳۴۳:** نوی اساسي قانون په رسمي ډول آزادې او ډموکراتیکې ټاکنې، د دوو مجلسونو پارلمان، د عمومي رایې ورکونې حق (ښځو هم رأیې ورکړې) را منځ ته کړ.

**۱۳۴۴:** ټاکنې

**۱۳۴۸:** ټاکنې

**۱۳۵۲:** داود خان ، شاهي رژیم نسکور او د افغانستان جمهوریت یې اعلان کړ. تر **۱۳۵۶** پورې هیڅ پارلمان شتون نه درلود. د سیاسي مخالفینو په وړاندې بشپړه حساسیت لیدل کیده.

**۱۳۵۶:** د داود اساسي قانون، اسلامي او سوسیالستي اصول یې سره یو ځای کړل. له پارلمان او قضاییه قوې څخه یې ډیر صلاحیتونه واخیستل. افغانستان د یوه سیاسي ګوند دولت و.

**۱۳۵۷:** د غویي انقلاب، داود او دهغه کورنۍ ووژل شول، د افغانستان د خلکو ډموکراتیک ګوند د

نورمحمد تره کې په مشری یې د حکومت واګې تر لاسه کړل.

**۱۳۵۸:** د شوروی تیری، تره کی و وژل شو او امین د دریو میاشتو لپاره ولسمشر شو. امین وروسته بیا د KGB له خوا و وژل شو او پرځای یې ببرک کارمل ځواک ته ورسید.

**۱۳۶۴- ۱۳۶۵:** نوی اساسي قانون. د هیواد نوم د "افغانستان دموکراتیک جمهوریت" څخه د "افغانستان جمهوریت" ته واوښت. سیمه ایزې ټاکنې د کابل ولایت په څو کلیو کې چې د حکومت تر ولکې لاندې وو تر سره شول. کارمل د شورویانو تر فشار لاندې د ولسمشرۍ له څوکې څخه لیرې شو.

**۱۳۶۶:** نجیب الله ولسمشر شو. یو نوی اساسي قانون یې چې د خلکو د رایو پر بنسټ یو انتخابی پارلمان او د پارلمان له خوا د ولسمشر ټاکل په کې مشخص شوې وو ، تصویب کړ ، دا اساسي قانون د محلي او ولایتي شوراګانو لپاره هم احکام لري.

**۱۳۶۷:** ټاکنې تر سره شوې، خو یوازې د حکومت تر ولکې لاندې سیمو کې.

**۱۳۷۱:** نجیب الله استعفا ورکړه او وروسته له هغه چې رژیم سقوط وکړ کورنی جګړې پیل شوې.

**۱۳۷۵:** طالبان په کابل کې ځواک ته ورسیږی او نجیب الله وژني.

**۱۳۸۰:** د طالبانو نسکوریدل او د بن د پروسې پیل.

**۱۳۸۳:** لومړنۍ ولسمشریزې ټاکنې.

**۱۳۸۴:** د پارلمان او ولایتي شوراګانو ټاکنې

**۱۳۸۸:** د ولسمشری او ولایتي شوراګانو ټاکنې

**۱۳۸۹:** پارلماني ټاکنې (راتلونکې)

معلومات له هغو سرچینو څخه اخیستل شوي کومې چې په **۱۵** فوټ نوټ کې ذکر شوې دي.

# ۴. په افغانستان کې د "ډموکراسۍ" تعريفونه، مفهومونه او تفسيرونه

دغه برخه په دنومورې څېړنه کې د ځواب ويونکو تر مېنځ دډموکراسۍ بيلابيل مفهومونه راسپړي. څلور تکراريدونکي موضوعات چې پر هغو به په تفصيل سره بحث وشي لکه ډموکراسي د آزادۍ په مفهوم ؛ لوديزوال د اسلامي ډموکراسۍ د مخالفينو په توګه؛ ډموکراسي د قانون د حاکميت او امنيت سره تړلې ده؛ او ډموکراسي د بېوزلۍ د راټيټولو، اقتصادي پراختيا او مساوات سره تړاو لري.

## ۱٫۴ ډموکراسي د "آزادۍ" په مفهوم

تر ټولو هغه ګډ تړاو چې د بيلابيلو پس منظرونو درلودونکو ځواب ويونکو له خوا ډموکراسۍ ته ورکړای شو هغه ډموکراسي د "آزادۍ" په مانا وه. لکه چې لاندنيو ځواب ورکوونکو ورته اشاره وکړه چې دغه تړاو اکثره وخت په ټاکنو کې د ګډون لپاره د "آزادۍ" په مانا ، او دا چې يو کس وکړای شي خپل دولت وټاکي او نيوکه پرې وکړي، له دې سره سره دا انديښنه چې د (نورو ) خلکو آزادي د ډموکراسۍ څخه "ناوړه" توګه ګټه پورته کوي، او دا چې د آزادۍ او ډ موکراسۍ تر نامه لاندې په هر ډول سلوک او چلند سترګې پټې شوې دي او دا کيدای شي چې ټولنيزې ستونزې رامنځ ته کړي:

*لومړی ځواب ورکوونکي (د دوهم ځواب ورکوونکي سره په مذاکره کې):*

*زما په اند ډموکراسي د آزادۍ په مفهوم ده، او موږ د ټاکنو پرمهال آزادۍ ته اړتيا لرو. هرڅوک بايد د يو تن په ټاکنه کې چې هغه يې غواړي بايد دآزادۍ احساس وکړي.*

*دوهم ځوا ب ورکوونکی: هوکې زه موافق يم، موږ په افغانستان کې ډموکراسي غواړو خو ... له ځينو اړخونو نه موږ ډموکراسي نه خوښوو، ځکه چې موږ د دې شاهدان يو چې ځينې وکړې د ډموکراسۍ څخه ناوړه ګټه اخلي. د ډموکراسۍ څخه بايد ناوړه ګټه پورته نه شي.*

*زما په اند په ټوليزه ډول خلک د ډموکراسۍ څخه غلط تعبير لري ، د بيلګې په ډول ځيني خلک فکر کوي چې ډموکراسي نامحدوده آزادي ده، يا دا چې هر څه چې غواړي تر سره کولای يې شي، اويا دا چې هر ډول جامې اغوستل.[۳۲]*

*ډموکراسي په يوه هيواد کې ډير لوړ ارزښت دی. خو يوه ستونزه دا ده چې په افغانستان کې له ډموکراسۍ څخه ناوړه ګټه پورته شوې ده.. ډموکراسي د ژوند آزادي، د بيان آزادي، د مذهب او نورو آزادي ده، خو ... زما په اند د دوکراسۍ د ټلو اړخونو پلې کول د وخت څخه د مخه خبره ده. دا به غوره وای چې آزادي او ډموکراسي په تدريجي ډول راوړل شي.[۳۳]*

*د هيواد په کليوالو سيمو کې خلک د ډموکراسۍ د کلمې سره حساسيت لري او د هغوي لپاره دغه کلمه د غير محدودې آزادۍ په مفهوم ده. اوس د "ډموکراسۍ" کلمه د ځوانانو په مېنځ کې يو ډول ټوکه ده. که چيرې هغوي د يوه قانون څخه سرغړونه کوي او يا هم غلط کار کوي، هغوي دا کلمه کاروي او وايي، "هوکې، مهمه نه ده ، دا يوه ډموکراسي ده" ... په ښارونو کې د ځوانانو ترمنځ ډموکراسي د ښه ژوند درلودل او تلويزيون کتلو په مفهوم ده.[۳۴]*

---

۳۲ ځوان دولتي کارمند، د پروان د ښاري سيمې څخه

۳۳ د اين جي او يو ځوان کارمند، د کابل ولايت ښاري اوسيدونکی

۳۴ د مدني ټولنې نارينه استازی، د بلخ د ښاري سيمې اوسيدونکی

دغه وېناوې دا څرګندوي چې په ټاکنو کې د ګډون آزادي ارزښتناکه ده، خو دا د "ډموکراسۍ" په بڼه د فردي آزادۍ د پام وړ "زیاتوالي" خطر له ځانه سره لري. خو د ځواب ویونکو تر مینځ هغه لیوالتیا چې څرګنده کړي چې نور افغانان په بشپړه ډول د ډموکراسۍ په مفهوم نه پوهیږي، او سر بیره پردې ددې وړتیا نه لري او یا نه غواړي چې خپله آزادي په هغو حدودو کې چې ټولنې ته د منلو وړ وي محدوده کړي په زړه پورې ده. په ډېرو بحثونو کې ځواب ورکوونکو په ځانګړې ډول هغو کسانو ته اشاره کوله چې په کلیوالو سیمو کې او سیږي او یا هغه ځوانان چې ډېر زیات احتمال لري څو له "ډموکراسۍ څخه ناوړه ګټه" پورته کړي.[35] د دې اصلي لامل د هغوی په آند د پوهاوي، ښوونې او روزنې نشتوالی دی چې د یو داسې حالت لامل کیږي چې په هغه کې خلک د لاړښوونې لپاره مشرانو ته ګوري او په اسانۍ سره تر اغیزې لاندې راځي. د کلیوالو وګړو په اړه د دغه ډول چلند د ښاري لوستو نخبه ګانو[36] تر منځ غیر معمول نه دی او د ځوانانو فعالیتونو د جدي انګیرلو په اړه نسبي بې میلي د افغاني ټولنې په بیلا بیلو اړخونو کې په دوامداره توګه لیدل کیږي. سره له دې د مرکو په نسخو کې د دغې ټکې په مکرره توګه ذکر (په تیره بیا ښاري سیمو کې) په هغه هیواد کې چې د وګړو زیاته برخه یې د ۲۵ کلنو څخه ټیټ عمر درلودونکې دي او زیاته برخه خلک یې په کلیو کې او سیږي د ډموکراسۍ په اړه د عامه پوهاوي د نشتوالي په اړه د زیاتې اندېښنې ښکارندوی دی.[37]

د دې څخه دغه باور د ځواب ویونکو په مینځ کې را پیدا کیږي چې دلته باید ملي ټولنیز کنټرولونه پلې شي څو وکړای شي هغه غیر محدوده وګړنیزه آزادي محدوده کړي چې ښایي د ځینو ډلو په آند ډموکراسي دغه مفهوم ولري. لکه چې یو تن ځواب ویونکي څرګنده کړه،

> *خلک وایي "هر څه چې غواړې کوه یې، ځکه دلته دموکراسي ده." دا د دولت دنده ده چې دموکراسي او آزادي خلکو ته تعریف کړي. دلته باید ځینې محدودیتونه هغه وخت شتون ولري کله چې تاسو آزاد یاست.*[38]

> *د ځواب ورکوونکو یو ستر اکثریت داسې نظر درلود چې د دغه ډول کنټرول رامنځته کیدل هغه وخت امکان لري کله چې سیاسي سیستم د اسلامي اصولو سره یو ځای وي.*

> *موږ ډموکراسي منو خو موږ یوه اسلامي ډموکراسي غواړو، موږ یوه داسې ډموکراسي نه غواړو په کومه کې چې ګډوډي یا بې قانوني (انارشي) وي او په هغې کې د ښوونکو او مشرانو لپاره درناوی نه وي.*[39]

خلک بې تعلیمه دي او د آزدۍ او ډموکراسۍ په هکله نه پوهیږي، نو د دغې آزادۍ څخه ناوړه استفاده کوي. د بیلګې په ډول ځوانان د

---

۳۵ دغه ډول فرضیه د هغو معلوماتو سره په تضاد کې ده چې د دې مطالعې لپاره د کلیوالو سیمو څخه راټول شوي دي. چیرته چې د دولت د انتخاب لپاره د رایې د حق په اړه عمومي تفاهم او درناوي ولیدل شو. د دې وینا په تایید چې دغه مطالعه په هغو کلیوالو ساحو کې چې د ولایت د مرکز څخه د ۱۰۰ کلومترو څخه زیات لیرې نه و ترسره شوې ده، او یا هم هغو سیمو کې چې په اسانۍ سره ورته د سړک د لارې رسیدنه اسانه نه وه. دلته په دې مطالعه کې د دغو سیمو لپاره د نورې څیړنې ځای شته چې هغه به د د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د راتلونکی وخت د اوږدې پښوې څیړنې په ترڅ کې ترسره شي.

۳۶ دغه ډول روش د AREU په څو نورو څیړنو کې چې په کې د Anna Larson څیړنه شامله ده لیدل شوی دی، د آساسي لوری او جریان صلاحیت او دنده: په افغانستان کې د جنسیت د برابرۍ وده (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۷)

۳۷ دقیق او کره شمیرې نشته، د نفوسو په اړه د کره ارقامو نشتوالی، خو د مرکزي احصاییې دفترونه به ۱۳۸۲- ۱۳۸۷ کلونو کې ټول نفوس ۲۳۵۱۱۴۰۰ تنه دی، ۱۸۱۸۱۲۰۰، یا (۷۷٪) یې په کلیوالو سیمو کې اوسیږي. (د مرکزي احصاییې دفتر د نفوس احصا یه کال ۱۳۸۲، ۱۳۸۷ (کابل د مرکزي احصاییې دفتر کال ۱۳۸۷). د ملګرو ملتونو د نفوسو د وجهی صندوق (یونیفپا) د احصاییې له مخې ۶۸٪ وګړي په افغانستان کې د ۲۵ کلونو لږ عمر لري، ټولنیز، اقتصادي او دموګرافیک تصویر، ۱۳۸۲-۱۳۸۴ (د ټول افغانستان جلد)

۳۸ نارینه خیاط، د کابل ښاري او سیدونکی

۳۹ ښځینه ښوونکی، د بلخ ولایت ښاري او سیدونکی

موبايل ټيلفونونو څخه ناوړه استفاده کوي او د هغو څخه د غير قانوني فعاليتونو لپاره لکه د نجونو او هلکانو ترمنځ د اړيکو او ناوړه فلمونو د ليدلو لپاره کار اخلي. دلته بايد قانوني او اسلامي آزادي وي.... قانوني آزادي هغه آزادي ده چې د اسلامی تفکر پر بنسټ وي. آزادي بايد تر هغه حده چې اسلام او قانون اجازه ورکوي محدوده وي.[۴۰]

ځواب ورکوونکې په دې هڅه کې وو چې دغه ټولنيز مقررات د اسلامي اصولو سره وتړي، خو په عين حال کې د ټولنيزو محدوديتونو سره يو ځای خلک په افغانستان کې د ډموکراسۍ غوښتونکې هم دي. دا د دې ښکارندوی دی چې تر يوه حده "غير محدوده آزادي" ډير ځله د ډموکراسۍ سره تړل شوې ده چې دا حکومت د ټاکلو د ډموکراټيکې لارې نه بېليدونکې برخه نه ګڼل کيږي ، بلکه برعکس ليدل شوې ده چې د ډموکراټيک کول "د لويديځې ټولنې" او د نورو انفرادي، ليبرالو مشخصاتو لکه سيکولريزم او "بد لمنۍ ، ، سره يو ځای راځي (۲.۴ برخه وګورئ).

په ملي حکومت کې د اسلام او ډموکراسۍ د ګډ ژوند او د يو بل د بشپړونکې په توګه د دې څيړنې په مرکو کې ګڼ شمير او بيلا بيل بحثونه تر سره شول[۴۱] سره له دې په ټوليزه توګه يو ګډ نظر را مينځ ته شو چې د دې ښکارندوی وو چې اسلامي ارزښتونه کولای شي ( او له پخوا نه يې کوي ) په ټولټاکنو او ډموکراسۍ کې د عمومي ګډون سره مرسته وکړي( له ځينو ټولنيزو مقرراتو سره ). دغه ارزښتونه په ځانګړې ډول د ځواب ورکوونکو له خوا د استدلال په توګه وړاندې شول چې په کې ډموکراتيکې ټاکنې، ټولنيزه برابري، د ښځو حقونه چې دغه ټول په اسلامي چوکاټ کې راځي. په داسې حال کې چې د بيلا بيلو ځواب ويونکو تر مينځ دغه نظرونه سره توپير لري هغه ارزښتونه چې په نوموړې چوکاټ کې تعريف شوې دي دداسې ډلو ژوند څرګندونه کوي چې خلک فکر کوي چې د ژوندانه د هغه ارزښتونو سره چې د چوکاټ څخه بهر دي په تضاد کې دي.

دغه دوه ډوله نظر ډير ځله دا څرګندوي چې زمونږ د ارزښتونو سيستم د هغوي د ارزښتونو د سيستم يا هم د اسلامي ارزښتونو سيستم د لويديځې ډموکراسۍ پرضد دی.

## ۲,۴ اسلامي/ لويديځه ډموکراسي

د هغه ځواب ورکوونکو شمير خورا زيات وو چې دغه توپير ته يې اشاره کوله او د ټولنيزپس منظر يو ترتيب يې منعکسولو او دا يې په ډاګه کوله چې په افغانستان کې په دې ډول د ډموکراسۍ ذهني کول غير عادي نه ده. په ټوليزه ډول لويديځه ډموکراسي د بد لمنۍ او بی دينی سره تړل شوې ده نو له دې کبله نه ده منل شوې، په داسې حال کې چې اسلامي ډموکراسي هغه ده چې په کې مثبت ارزښتونه چې په افغاني ټولنه کې د منلو وړ دي شته دي:

*زما په آند د اسلام او ډموکراسۍ ترمنځ ډير ورته والی شته. په دغو ورته والو کې وګړنيزه آزادي، د بيان آزادي، د عقيدې او مذهب آزادي، د دولت ټاکل، رايه ورکول او نور شامل دي. خو دلته ځينې موضوعګانې دي چې د لويديځې ليبرال ډموکراسۍ او اسلام ترمنځ توپير را مينځ ته کوي لکه ښځو ته وګړنيزه ازادي، او آن دا چې په لويديځو ډموکراسيو کې د ورته جنس ترمنځ واده قانوني*

---

۴۰ د نارينه ټولنې مشر او دوکاندار، د کابل ښار

۴۱ دلته د ادبياتو يوه زيرمه د دې موضوع په اړه شته چې په تفصيل سره دلته نه راوړل کيږي. د لا زياتو معلوماتو/تحليل لپاره د John L. Esposito او John O. Voll مثال وګورئ، اسلام او دموکراسی (اکسفور او نيويارک: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه، ۲۰۰۲) خالد ابو الغدل، اسلام او د دموکراسۍ ننګوونې (د امريکې متحده ايالات اين جی: د پرينستون د پوهنتون مطبعه ۱۳۸۳)، همدارنګه Oleson، اسلام او سياست په افغانستان کې، په افغانستان کې د اسلامي سياستونو په اړه، او د دموکراسۍ مجله، ۱۹ ګنه، اسلامي ګوندونه او دموکراسي.

*دی خو په اسلامي او افغاني فرهنګ کې دغه ډول آزادی غیر اخلاقي دي.*[42]

*دلته دوه ډوله دموکراسي شته. یوه اسلامي ډموکراسي او بله یې لویدیځه ډموکراسي ده. لویدځه ډموکراسي د افغانانو لپاره د منلو او تطبیق وړ نه ده، ځکه چې دا د دوي د مذهب او عقیدې پر خلاف ده. د لویدیځې ډموکراسۍ پر بنسټ یوه واده شوې میرمن کولای شي چې یو نارینه دوست ولري، په داسې حال کې چې دغه ډول ډموکراسي په افغانستان کې د منلو وړ نه ده. ډموکراسي باید د اسلام په چوکاټ کې وي او ښځې باید د اسلامي عقیدو او احکامو څخه پیروي وکړي، چې په دې صورت کې موږ کولای شو چې په هیواد کې ډموکراسي وآزمایو.*[43]

*ډموکراسي د خلکو حکومت د خلکو له خوا د خلکو لپاره دی، خو په افغانستان کې موږ د بهرنیانو حکومت د بهرنیانو له خوا د افغانانو لپاره لرو. د دې واقعې تعریف په افغانستان کې برعکس دی... غوره ډموکراسي اسلامی ډموکراسي ده... موږ په اسلام کې یو چوکاټ لرو او موږ نه باید د نوموړې چوکاټ له حدودو څخه تیری وکړو.*[44]

*ډموکراسي د آزادی په مفهوم ده، او څرګنده ده چې موږ دې ته اړتیا لرو، خو دا باید اسلامي ډموکراسي وي او نه لویدیځه.*[45]

*موږ د لویدیځ څخه ځینې ډموکراټیک ارزښتونه مو رانقل کړي دي او افغانستان د بشري حقونو ځینې اعلامیې لاسلیک کړي دي، خو زه فکر نه کوم چې دا به زموږ په اسلامي ټولنه کې د تطبیق وړ وي. په ټلویزیون باندې د ښځو د بربنډو عکسونو ښودل او یا هم د سوداګریزو د اعلانونو لپاره د ښځو څخه د یوې وسیلې په توګه کار اخیستل د دې مانا نه لري چې موږ دا ادعا وکړو چې په افغانستان کې دموکراسي شته.*[46]

د مرکو په ترڅ کې تکراریدونکې موضوع چې په پورتنیو دریو نقل و قولونو کې څرګنده شوه هغه د لویدیځې ډموکراسۍ کلک تړاو له ښځو او بدلمنۍ سره دی. دا موضوع د مرکه کوونکو له خوا نه وه راپورته شوې بلکې د یوې مهمې موضوع په توګه د نارینه وو او ښځو ځواب ورکوونکو دواړو له خوا راپورته شوې وه. په حقیقت کې که چیرې د اړیکو یو زنځیر رامنځته شي نو : ډموکراسي= لویدیځ= بد لمنی= ښځې، وروستني دوه مفاهیم په افغانستان کې د پراخو فرهنګي نورمونو سره تړاو لري چې ښځې د کورنۍ د عزت او اخلاقي معیارونو پر وړاندې مسوولیت لري.[47]

د ځینو لپاره (افغانان او نور) دغه نظر چې "د ښځو وګړنیزه آزادي "له اسلام سره مطابقت نه لري، یو "غیر ډموکراتیک" نظر څرګندونه کوي. په حقیقت کې، د نورو لپاره، به دا هم یو غیر اسلامی نظر څرګند کړي. په دې توګه کله چې ګڼو ځواب ورکوونکو د لویدیځې ډموکراسۍ او ښځو د تړاو په اړه خبرې کولې، نو په یوه افغاني او اسلامي ډموکراسۍ کې د ښځو د ونډې او آزادیو په اړه کوم ګډ نظر نه تر سترګو کیږي. دغه وګړنیزه آزادي د ځواب ورکوونکو له خوا په مشخصه توګه نه تعریفیده ، او که چیرې تعریفیده هم د نورو له خوا به پرې اعتراض کیده. د دې سره سره د ښځو او نارینه وو ځواب ورکوونکو ترمنځ د بحث یوه څرګنده موضوع دا وه چې د سختو

---

۴۲ د نارینه ټولنې مشر، د کابل ښار

۴۳ نارینه ښوونکی، د کابل ښار

۴۴ نارینه زده کوونکی، د بلخ ولایت ښاری

۴۵ ښځینه زده کوونکې، د بلخ ولایت کلیواله

۴۶ د ښځینه ټولنې مشره، د کابل ښار

۴۷ د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ، نانسي تاپر، بارټرد برایدز: سیاست، جنسیت او په افغاني قبایلي ټولنه کې واده (کمبریج، بریتانیا ، د کیمبریج د پوهنتون مطبعه، ۱۳۷۰).

دریځونو ترمنځ پرمنځنۍ لار تاکید او ټینګار کیده- لکه چې یوې ښځینه ځواب ورکوونکې په یوه ډله ایزه بحث کې داسې څرګنده کړه، "افغانۍ میرمنې هیڅکله دا نه غواړي چې په متروکه ووهلې شي او نه هم هغوي غواړي چې د ټلویزیون او یا هم د سینما په پرده کې د ښځو بربنډ تصویرونه وګوري."[۴۸] په زړه پورې خو دا ده چې په هیڅ یوه ولایت کې هیڅ ځواب ورکوونکی نارینه او ښځې هغو ګڼ شمیر ښځو ته اشاره نه درلوده چې په افغانستان کې په سیاسي چاپیریال او دفترونو کې همدا اوس فعالې دي (په پراخه توګه د هغو ساتل شوو څوکیو د سیستم په پای کې چې په اساسي قانون کې یې واضح شوی دی). [۴۹] د دې ځخه دا جوتیږي چې د دغو مرکه په ترڅ کې چې په دریو ولایتونو کې تر سره شوې، په عامه چاپیریال کې د ښځو ونډه په زیاتو برخو کې د منلو وړ ده، او یا هم لږ تر لږه د ۲۰۰۵ کال په څیر د بحث ټکی نه وو.

هغه مسأله چې دلته پرې بحث وشو داسې ښکاري چې د زکریا د رسالې سره توافق لري- د ډموکراتیکو سیاستونو او د لویدیځ لیبرالو ارزښتونو سره یو ځای کول- خو همدارنګه هغه ستونزمن کار چې دغه ارزښتونه مشخص کړي چې کوم یو یې په افغانستان کې د اسلام له چوکاټ سره سم دی. یوه ښځینه اسلامي عالمه چې په نوموړې څیړنه کې ورسره مرکه شوې وه په لنډه توګه یې داسې وویل:

> *افغانستان یو اسلامي هیواد دی. ډموکراسي په افغانستان کې د حکومتدارۍ د یو سیستم په توګه ښه ده. ډموکراسي یو ارزښت نه دی. که چیرې دا د یو ارزښت په توګه وګڼل شي، د هغو ارزښتونو په ګډون چې په لویدځه ټولنه کې د ډموکراسۍ په توګه ور څخه کار اخیستل کیږي، موږ هغه نه منو، ځکه دا زموږ د اسلامي او دودیزو ارزښتونو سره سمون نه لري. که چیرې موږ دې ټولنې ته لویدځه ډموکراسي راوړو نو دا به یو تناقض وي. خو که چیرې موږ د موکراسۍ مثبت او د تطبیق وړ اړخونه زموږ د اسلامي او دودیزو ارزښتونو سره یو ځای کړو نو موږ به ډیر بریالي خلک و اوسو.*[۵۰]

په څرګند ډول ډموکراسي او ډموکراتیک کول دواړه د خورا ارزښت درلودونکې بهیرونه دي. دا روښانه ده چې د ډیرو ځواب ورکوونکو لپاره لویدیځ او اسلامي ارزښتونه په بنسټیز ډول سره جلا دي، خو د ډموکراتیکو اصولو له مخې دلته ځینې ګډ ټکې شته چې دواړه ډلې تر پوښښ لاندې راولي. په داسې حال کې چې دد ې منځ پانګې په هکله د افغانانو ترمنځ د نظر یوالی نه شته ،نو په دې صورت کې د دې پوښتنې سره سره چې دغه دنده به چاته وسپارل شي دا به د یوه نا څرګند نظر په توګه پاتې شي. په دې اړه چې کوم یو فعال به د منلو وړ ارزښتونو د تعریفولو دنده پر غاړه واخلي او په دې اړه چې ددغه بحث لپاره یوه پراخه غونډه به څه ډول وي د یوې مهمې پوښتنې په توګه پاتې ده. دا لیکنه د دغو ستونزو د حل لارې چارې نه وړاندې کوي. سره له دې استدلال کوي چې په اوسنیو شرایطو کې دا یو پر ځای او اړین بحث دی. لا تر اوسه د ډموکراتیکو ارزښتونو او د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د هغو د مفهوم په اړه د یوې ملي ارزونې نشتوالی، چې په ټولیزه کچه کیدای شي د ډموکراسۍ د منلو لپاره یو مثبت او رغنده ګام وي. وړاندې تر دې چې دا کار ترسره شي، په لوړه کچه د ډموکراټیک سیستم ملاتړ لپاره څرګندې سیاسي ارادې، او په عامه کچه د افغانستان په شرایطو کې دد ې د ترکیب په اړه د بحثونو هڅونې ته اړتیا ده. څرګنده ده چې دا ډول بحثونه کولای شي داسې پایلې ولري چې هغه به د لویدیځ لیبرالو اصولو سره سمون و نه لري، خو دا مهمه ده چې ډموکراسي باید په افغاني شرایطو کې تعریف شي څو په دې توګه د هغه تورونو سره مقابله وشي چې ګواکې دا یو را وارد شوی سیاسي سیستم دی او باید ونه کارول شي.

---

۴۸ د ښځینه ټولنې مشره، د کابل ولایت ښاري

۴۹ د افغانستان د اساسي قانون ۸۳ او ۸۴ مادې (غیر رسمي ترجمه، د افغانستان سره د مرستې له الف څخه تر ی پورې لارښود (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۸)، و ۱۰۰) د ریزرف شوو د څوکیو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ (د علاقمندۍ یوه موضوع)

۵۰ ښځینه د دیني علومو ښوونکې، د کابل ښاري

## ۳،۴ ډموکراسي د قانون د حاکمیت او امن سره تړاو لري

د مرکو په ترڅ کې د ريم مهم او د پام وړ تمایل د ډموکراسۍ او امنیت ترمنځ تړاو دی. دا به ډېر ځله د یوه منفي اړخه به څرګند یدلو او د دې ښکارندی وو چې د افغانستان او سني شرایط د دغو مهمو لاملونو د نشتوالي له کبله ډموکراتیک نه دي:

*آیا دا ډموکراسي ده چې نجونې نه شي کولای ښوونځي ته ولاړې شي، لوست وکړي، کله چې په ډېرو ولایتونو لکه کندهار او فاریاب کې د نجونو پر وړاندې تاوتریخوالي څخه کار اخیستل کیږي؟ کله چې د نجونو پر مخ تیزاب شیندل کیږي نو بیا ډموکراسي چیرته ده؟ کله چې د پروان په ولایت کې په ښوونځیو کې نجونې مسمومي کیږي نو بیا موږ څنګه ویلای شو چې موږ ډموکراسي لرو؟[51] دلته تش په نامه ډموکراسي ده، دلته رښتینې ډموکراسي نه شته او موږ ویلای شو چې موږ هیڅکله هم ډ موکرا سي نه درلوده.[52]*

*خلک فقط د سړک په غاړه روان وي او لږ څه وروسته د هغوي مړي کورته راوړل کیږي. خلک په خپل چارچاپیر کې په آزاده توګه نه شي ګرځیدای. دا ترکومه حده ډموکراسي ده؟ هغه حالات چې همد اوس زموږ په هیواد کې دي دا ډموکراتیک نه دي.[53]*

*په افغانستان کې موږ نه پخوا ډ موکراسي درلوده او نه یې اوس لرو. زه نه پوهیږم د څه په اړه وغږیږم، زما په اند دلته هیڅ کوم داسې څه نه شته چې د افغاني ډموکراسۍ په اړه پرې خبرې وشي، او موږ یوازې شعارونه اورو... په پرمختللې نړۍ کې ډموکراسي د خلکو او حکومتونو له خوا پلې شوې ده. هلته خلک حقوق لري، هغوي په آزاده او خپلواکه توګه خپلې رایې ورکوي. خو په افغانستان کې حالت داسې نه دی. دلته زور او ټوپک دی... جنګ سالاران خلک دې ته اړ باسي چې دوی ته رایې ورکړي. که چیرې هغوي د یو ځانګړی جنګ سالار ته رایه ورنه کړي نو بیا یې ژوند په خطر کې دی. دا هغه څه دي چې موږ دلته په افغانستان کې د ډموکراسۍ تر نامه لاندې یې وینو، دا د ډموکراسۍ لپاره شرم دی.[54]*

*د ډموکراسۍ وده هغه وخت ممکنه ده چې امنیت وي. زما په آند پرته له دې موږ ډموکراسي نه شو درلودلی.[55]*

څرګنده ده چې د آزادو او عادلانه ټاکنو مفهوم او د ټولیزې رایې ورکونې حق هغه وخت تر پوښتنې لاندې راځي، کله چې رایې په زور تر لاسه کیږي (یا هم لږ تر لږه داسې و انګیرل شوې چې تر لاسه کیږي)، او یا هم کله چې د هیواد په ځینو برخو کې د رایې اچوونې مرکزونه د امنیت د نشتوالي له کبله و نه پرانیستل شول. په حقیقت کې د یاغیانو د بریدونو ویرې په ځینې ولایتونو (لکه هلمند) ډېر رایه ورکوونکي یې د دې څخه منع کړل چې د ۱۳۸۸کال د زمري د میاشتې ټولټاکنو د رایې ورکونې مرکزونو ته ولاړ شي.[56] خو هغه نا امني چې د ځواب ورکوونکو له خوا یې یادونه وشوه د ټاکنو له پړاو څخه ها خوا ده ګڼ شمیر کسان د ټولیزې نا امنۍ په هکله چې خلک هره ورځ ورسره مخامخ دي وغږیدل. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په مخکینۍ څېړنه کې د امنیت کمښت د دې لپاره وښودل

---

۵۱ ځواب ورکوونکي دلته د هیواد د بیلا بیلو برخو څخه یو لړ مثالونو ته مراجعه کوي چې په دغو پیښو کې د ښوونځیو پر نجونو باندې تیزاب د هغه چا له خوا پاشل شوي دي چې دغه افراطي ډلې په ایډیالوژیک لحاظ د نجونو د تعلیم مخالفې دي. همدارنګه د ۱۳۸۸کال د مۍ په میاشت کې د پروان د ولایت څخه داسې راپورونه و چې د بنسټ پالو ډلو له خوا د نجونو د ښوونځي په میدان کې زهرجن غاز پاشل شوی وو. وګورئ د غاز د بریدولنو له ډاره افغان نجونې په کورونو کې دي، MSNBC، ۲۴ غویی ۱۳۸۸ www.msnbc.msn.com/id/30747859

۵۲ ښځینه زده کوونکی، د پروان ښاری

۵۳ ښځینه زده کوونکی، د بلخ ولایت ښاري

۵۴ د ټولنې نارینه مشر، د کابل ولایت ښاري

۵۵ ښځینه زده کوونکي، د بلخ ولایت ښاری

۵۶ د مثال په ډول وګورئ "سفیر د افغانستان ماموریت ملاتړی دی" د بي سي خبرونه، ۵ وری ۱۳۸۸

شو څو هغه موضوعات چې د پارلمان د غړو او دډلو د مشرانو له خوا په آرامۍ سره په عام محضر کې پورته کیږي اغیزمن کړي ، چې دا په بنسټیزه توګه د هغوی استازیتوب هم تر پوښتنې لاندې راولي.[۵۷] په ټولیزه ډول ورځ په ورځ نا امني یوه مهمه اندیښنه وه چې ددې لامل شوه چې ځواب ورکوونکې ووایي چې ډموکراسي نشته، او یا دا چې په افغانستان کې په "ډیره ټیټه کچه" ده. تر ټولو مهمه دا چې که چیرې د هیواد میشت وګړي نه د ټاکنو پر بهیر ، او نه ددوی تر مینځ د سولې د تامینولو لپاره د ټاکل شوې حکومت پر وړتیا باور ولري نو دا به تر ډیره حده د ګډون لپاره د هڅونکې د کمښت لامل شي.

دا د قانون د واکمنۍ په هکله دځواب ورکوونکو له لید لورو سره تړاو لري او د ډیرو په آند پرته له دې ډموکراسي نا شونې بریښي. لومړنۍ بیلګه چې وړاندې شوه هغه تعبیر وو چې ګواکې "بډایه خلک د قانون څخه پورته دي" او دا چې بډې اخیستل دهغه چا لپاره چې دا کار کولای شي د قانون څخه وړاندې دی.[۵۸] دا په زیاتو قضیو کې د هغو اندیښنو سره مل وه چې حکومت د حامد کرزي په دوره کې قضایي سیستم ته یې پوره پاملرنه نه ده کړې. دا مشروع اندیښنې دي، او همدا راز دا د هغو لوړو هیلو څرګندونه هم کوي چې خلګ یې دډموکراسۍ او ډموکراتیک سیستم په هکله لري. هغوی نه یوازې د یوه مشروع حکومت د رامینځ ته کیدو بلکې په غوره ډول د دولت د څارلو د یوې ښې وسیلې لپاره هم هیله من دي. دغه موضوع به په راتلونکې کې ددې څیړنې له غځیدو سره به لا نوره هم وسپړل شي.

## ۴.۴ دډموکراسۍ تړاو د بې وزلۍ د راټیټولو ، اقتصادي پراختیا او مساوات سره

هغه وروستنۍ موضوع چې په افغانستان کې ډموکراسي باید څه ډول وي؟ په اړه د مرکو په ترڅ کې پرې پراخه بحث وشو په افغانستان کې اقتصادي پراختیا وه. په دې اړه یو لړ نظریات څرګند شول، چې په هغو کې تر هر څه د مخه د پراخې بیوزلۍ سره جوګت د ډموکراسۍ مینځ ته راتګ او په عامه توګه په ټول ټاکنو کې د نوماندو د ټاکلو او هغوی ته د رایه ورکونې لپاره مادي توکو ته لومړیتوب ورکول ، یو نا معقوله کار دی.

*کله چې نوماندې خلکو ته یو څه خواړه برابروي، او دیوې شیبې لپاره هغوی ته خبرې کوي او د هغوي څخه د رایې ورکولو غوښتنه کوي، نو خلک ددوی نظریې مني او پرته له دې چې په دې هکله په ژوره توګه فکروکړي هغوی ته رایه ورکونې پریکړه کوي.*[۵۹]

*دخلکو د پوهې د کچې لوړول د کمزورې اقتصاد له کبله خورا ستونزمن کار دی. هر هغه څوک چې خلکو ته اقتصادي ګټې ورسوي همغه رایې ګټي؛ نو خلک هم ور څخه ملاتړ کوي او هغه ته رایې ورکوي.*[۶۰]

*موږ دې شاهدان یو چې خلک د پیسو، غوړیو، غنمو او نورو شیانو په بدل کې رایه ورکوي. په واقعیت کې خلک زموږ د هیواد راتلونکې یوازې د لږ څه غوړیو... په بدل کې بدلوي، آیا دا ډموکراسي ده؟*[۶۱]

دغه ګډ درک د ځواب ورکونکو تر مینځ وو چې ډیر افغانان (په تیره بیا هغوي چې په کلیو کې اوسیږي) به لنډ مهالو اقتصادي ګټو

---

۵۷ انا لارسن، افغانستان نوی دموکراتیک ګوندونه: د دموکراتیزه کولو لپاره یوه لار؟ (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۸)

۵۸ په کابل کې مرکې، د بلخ او پروان ولایتونه

۵۹ دولتي نارینه کارمند

۶۰ ښځینه دولتي کارمند، د پروان ښاري

۶۱ نارینه ښوونکی، د بلخ د ولایت کلیوال اله سیمه

ته په ټاکنو کې پر آزاده توګه رایه ورکونه، لومړیتوب ورکړي. د ښاري سیمو ځواب ورکوونکو په ځانګړې ډول په دې پوهیدل چې کلیواله بیوزلي به ددې لامل شي چې خلک خپله رایه د پیسو او یا مادیاتو د لاس ته راوړلو په بدل کې وکاروي، لنډ مهاله، عملي او سیمه ایزو اړتیاوو ته پاملرنه په ملي کچه د اوږدمهالو، ستراتیژیکو ګټو سره د تضاد څرګندونه کوي.[۲۲] د ډیرو ښاري ځواب ورکوونکو لپاره دا ټاکنیز بهیر نا مشروع کوي او د سیاسي استازیتوب لر لید زیانمنوي. دغه اندېښنه په نړیواله کچه هغه د بحث وړ مسأله چې آیا ډموکراتیک سیاستونه د اقتصا دي ودې او د بې وزلۍ دکچې د راټیټولو لامل کیدای شي او آیا اقتصادي وده او د بیوزلۍ د کچې راټیټول د ډموکراټیک کولو لومړني شرطونه دي[۲۳] دنو موړې لیکنې لباره راټول شوې معلومات ددې ښکارندوی دي چې په افغانستان کې دغه وروستني یاد شوې ټکې د ډموکراسۍ لپاره د یوې زیاتې احتمالي سناریو په توګه پیژندل شوې ده.

که څه هم د ټاکنو په ورځ د کابل د ولایت په ځینو کلیوالو سیمو کې دغه ویره نه تر سترګو کیده. داسې رایه ورکوونکي ولیدل شول چې له یوه څخه د زیاتو کسانو څخه د خوړو او سوغاتونو په تر لاسه کولو یې نوماندې غولول او آن دا چې یوه نوماندې ته د رایه ورکونې د ژمنې سره سره به یې بل کس ته رایه ورکوله[۲۴] دا په ځینو ښاري سیمو کې هم ولیدل شول لکه دشت برچې چیرې چې ؛ړ نظر دا وو چې په دې ټولو ټاکنو کې د خلکو د پوهاوي کچه لوړه ده او خپلې رایې به ونه پلوري او په خپله به پریکړه وکړي چې چاته رایه ورکړي. چې دا کار د ځینو نوماندو د ناهیلۍ لامل شو چې هغوې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ته د مرکو په ترځ کې دا څرګنده کړه چې د هغه رایه ورکوونکو له خوا چې د ملاتړ ژمنه یې ورسره کړې وه ناهیلې شوې دي. که څه هم چې د رایې پلورنه د مادي لاسته راوړنو لپاره په ملي کچه عامه وه، خو دا د رایه ورکوونکو د سیاسي نیت یا هم د واک پر نه شتون دلالت نه کوي.

دوهم ټکی چې د اقتصادي پراختیا په برخه کې یې یادونه وشوه هغه دافغانستان د اقتصادي حالت او ډموکراتیکو دولتونو تر مینځ یوه ټولیزه پرتله وه د ځواب ورکوونکو په مینځ کې ډیر خپور درک دا وو چې د بیکارۍ، بېوزلۍ او فساد ته په پام سره افغانستان نه شي کیدلای چې دډموکراسۍ په توګه تصنیف شي، او سربیره پر دې د انګیرنو پر بنسټ رښتینې ډموکراسي دغه ډول اقتصادي ستونزې نه لري:

> *زما په آند په اقتصادي لحاظ موږ دې ته چمتو نه یو چې ډموکراسي ومنو او هغه په عمل کې په هیواد کې پلې کړو، ځکه چې موږ پوره اقتصادي سرچینې په هیواد کې نه لرو. سربیره پر دې موږ بندرونه او یا هم مناسب‌سوداګریزې پولې نه لرو. موږ د لویدیځو هیوادونو او د هغوی د وګړو څخه ډیر توپیر لرو... په افغانستان کې د ژوند تضمین نه شته او خلک ډیر بیوزله دي، خو په لویدیځو هیوادونو کې هر څه بیمه دي او دډموکراسۍ د نه عملي کیدو لپاره هیڅ دلیل نه شته. بیوزلي یو له هغه مهمو لاملونو څخه ده*

---

۲۲ ستراتیژیکي ګټې کیدلای شي چې د مثال په ډول په زیاته پیمانه په پارلمان کې استازیتوب وي. د عملي اړتیاوو/ستراتیژیک ګټو کړنلار د لومړي ځل لپاره د ښځینه پلوو (فیمنیت) ادبیاتو لپاره راغله چې ورڅخه د بشرپیژندنې د وسیلې په توګه کار واخستل شي. د لا زیاتو تفصیلاتو لپاره د نیلا کبیر، برعکسه واقعیتونه وګورئ: په پرمختیایي تفکر کې د جنسیت سلسله (لندن او نیویارک: ورسو، ۱۹۹۴)، ۹۰-۹۱

۲۳ د مثال په ډول ارین لیفټو یچ، ایو یلین هوبر، مستق خان، جین ګروګل او بې ایچ ای وګورئ، بحث: دموکرسای او پرمختیا، په نوی سیاسي اقتصاد کې ۷، ۲ ګڼه ۱۳۸۱): ۲۲۹-۲۸۱، هنتنګټون، د دموکرسای دریمه څپه، دیامنډ یوه نړیواله دموکراسي، او لیزا هارنر، څنګه او ولې دموکراسي په تیرو ۱۰۰ کلونو کې ګنو ګوندونو له لارې خپره شوه، او دا د بې وزلو په ژوند کې څه تغیر راولي؟ (اکسفورد: اکسفام، ۱۳۸۷). به څرګند ډول نور عوامل هم د دموکاتیکې حکومتدارۍ لباره وړاندې شرطونه تاییدوي، لکه بنسټیز امنیت، د قانون حاکمیت او سواد، د دې سره سره چې اقتصادي وده چې د ټولنیز ویش څخه وړاندې ځي د ډیر له خوا د اساسي شاخص په توګه د دموکراسي لپاره وګڼل شو چې د امکاناتو زمینه برابروي- وګورئ- فرانیس ستیورت او میګهن او سلیون، دموکراسي، ګړه او پمرختیا، درې قضیې، (اکسفورد: د اکسفورد پوهنتون، ۱۹۹۸) http://www.qeh.ox.ac.uk/repec/qeh/qehwps/5.pdf/accersed14aguest2008

۲۴ د کره او مشخصو مثالونو لباره وګورئ نوهاکو برن او انا لارسن، ملاتړ یا قیمومیت، حالت او ځان نیول، دنده، دموګرافیکی معلومات: ولې په ۲۰۹ کال کې افغانانو رایې ورکړې، (کابل: د افغانستان د ریسرچ او ارزونې واحد، ۱۳۸۸)

*چې په هیواد کې ډموکراتیک کول اغیزمن کوي او د ډموکراسۍ پروړاندې یو ستر خنډ بلل کیږي چې باید ورته پاملرنه وشي*[۲۵]

*د اوسني حکومت کړنو په افغانستان کې بې ډموکراسي نوم بدې کړې ده. زه ویلای شم چې په افغانستان کې دموکراسي نوره نه شته. خلکو په افغانستان کې د کورنیو او بهرنیو کړنې ولیدلې؛ دلته فساد، واسطه، او د دولت په ټولو شتمنیو جوړه شوې ده. د افغانستان خلک نور دې ته ډموکراسي نه شي ویلای.* [۲۶]

په ډیرو قضیو کې هغه معیارونه چې د افغاني ډموکراسۍ د ځرنګوالې په هکله د قضاوت لپاره په پام کې دي هغه د نورو ډموکراسیو د ځانګړتیاوو پر بنسټ ولاړ دي - د بیلګې په ډول د اقتصادي پراختیا لوړه کچه، د قانون حاکمیت، او د فساد په وړاندې د کنټرول شتون. دا د درک وړ تراو دی خو په دې هکله چې یو ډموکراتیک سیستم باید څه وړاندې کړي ډیرې لوړې هیلې څرګندوي. دغه ځانګړتیاووې بیا له هغو ارزښتونو سره ورته والی مومي چې د ډموکراسۍ په تعریف کې ورزیات شوې دي. لکه چې وړاندې یې یادونه وشوه - هغه د ډموکراسۍ د مفهوم نه بیلیدونکې برخې ګرځیدلې دي، نو که چیرې یو هیواد ددغو معیارونو سره سمون ونه لري هغه هیواد یا خو په "غیر ډموکرسۍ" او یا هم دا چې پخپله ډموکراتیک سیستم به لعنت شي. په بله مانا، "که دا ټول هغه څه وي چې مونږ لاس ته راوړي نو مونږ ډموکراسي نه غواړو." دا یوه اندیښنه ده، که چیرې ډموکراسي هغه شان چې د افغانستان د حکومت له خوا پلې شوې، هغه غوره یا بریالی بدیل به وړاندې نه کړي چې د حکومتدارۍ دډول لپاره ددولت ضد فعالینو له خوا یې ژمنه شوې، نو په دې توګه ښایي چې د یاغي ډلو څخه ملاتړ زیات شي. په دې اړه یو شمیر ځواب ورکوونکو په نوموړې څیړنه کې لږ تر لږه د افغانستان لپاره د جګړې وروسته بیارغونې په لومړي پړاو کې د ډموکراسۍ په اړه د یو پیاوړي او با انضباطه مشر د وړتیاوو په هکله خبرې وکړې، څکه د امکان په صورت کې به په لږه موده کې زیاته اقتصادي پراختیا تر لاسه شي.

دریم ټکی د ډموکراتیکې حکومت دارۍ سره اړوندې اقتصادي پراختیا د ځانګړې ډول په اړه وو. د ډیرو ځواب ورکوونکو لپاره ډموکراسي د مساوات او اقتصادي عدالت سره اړیکه لري، لکه څرنګه چې ددولت له خوا تنظیم شوې ده. لکه چې په لاندیني نقلو وقول کې څرګند شوی د آزاد بازار پانګوالي ته ډیر ځلې په منفي نظر کتل کیږي:

*که هر څوک د افغانستان اوسني حالت ته ډموکراسي ووایي، هغوی په واقعیت کې ډموکراسي بدناموي. ډموکراسي ځانته اصول لري. که چیرې خلک او حکومت د ډموکراسۍ له اصولو څخه پیروي ونه کړي نو وضع به دګډوډۍ (انارشۍ) خوا ته ولاړه شي. زه به تاسو ته یو ښه مثال درکړم. یوه خبریال د کابل له پخواني ښاروال څخه وپوښتل، "د یوې ډوډۍ بیه څوده؟" هغه ځواب ورکړ، "زه نه پوهیږم، څکه اوس موږ آزاد بازار لرو، نو ډوډۍ پخونکې (نانوایان) کولای شي چې خپله ډوډۍ په هره بیه چې غواړي وپلوري." دا حالت د نورو سوداګریزو توکو په برخه کې هم دی. د دې مانا دا ده چې په افغانستان کې موږ ډموکراسي نه لرو، دا انارشي ده.*[۲۷]

*زما په آند په افغانستان کې موږ ډموکراسي نه لرو، څکه ښوزلې لا هم بې وزله کیږي او شتمن لا هم شتمن. زه فکر کوم چې د ډموکراسۍ اصلي موخه برابري ده، خو په افغانستان کې برابري نشته... که چیرې موږ د خپل پیغمبر (ص) تاریخ ته ځیر شو نو موږ به پوه شو چې غوره ډموکراسي* خو هغه وخت کې وه. د ټولو خلکو د ژوندانه کچه سره برابره وه او هر څه د هغوی د اخلاقو او دودونو سره برابرو. زه د دغه ډول ډموکراسۍ سره موافق یم.[۲۸]

---

۲۵ نارینه مذهبي سکالر (پوه) او ښوونکی، د کابل ولایت ښاري

۲۶ د ټولنې نارینه مشر، د کابل ولایت د ښاري سیمې اوسیدونکی

۲۷ د نارینه ټولنې مشر، د کابل ښاري

۲۸ نارینه ښوونکی، د کابل ښاري

په دغو ويناوو کې لکه چې دډموکراسۍ او آزادۍ په اړه نقل و قول کې څرګنده شوه ( په ۴.۱ برخه کې )دا ممکنه ده چې د ټولنيز کنټرول ورته ډولونه په پام کې ونيول شي. د آزاد بازار د اقتصاد او پانګوالۍ په وړاندې چلند لکه چې په پورتني لومړني نقل و قول کې راغلې دي دا څرګندېږي چې دا د ټولو ځواب ويونکو تر مينځ ګډ دی او داسې ښکاري چې د افغانستان د خلکو ډموکراټيک ګوند د سوسياليستي د هغو سوسياليستي پاليسو په هکله تير يادونه منعکسوي. په ټوليزه توګه د افغانانو تر منځ د پانګوال اقتصاد په وړاندې بې باوري شته،[۶۹] چې احتمالاً له هغه درک سره تړاو لري چې ګواکې دا هم د لويديځ له خوا وارد شوی دی. په زړه پورې دا ده چې په دې صورت کې، په اصل کې د هغه تعبير پر اساس چې څه په ټولنيز او اقتصادي لحاظ عادلانه دي رښتينې ډموکراسي د دولت له خوا په تنظيم شوې ټولنيز ډموکراتيک طرز پورې تړاو لري نه د يو ليبرال ډوله حکومت سره.

دغه مثال په يو شمير قضيو کې ياد شو لکه د دولتی کارکونکو په تنخواګانو کې توپير هم "غير ډموکراتيک" ګڼل کيده.[۷۰] سربيره پر دې د قومي ډلو ترمنځ برابرۍ ته هم خورا زيات اهميت ورکړل شوی دی، او د کرزي هڅې څو د هغه کابينه د ټولو قومونو څخه استازيتوب وکړي د ډموکراسۍ پر لور يو مثبت ګام بلل کيږي.[۷۱] د درک شوې نابرابرۍ او يا بی عدالتۍ په اړه د ځواب ويونکو د چلند او په اسلام کې د ټولنيز عدالت په اړه بحث تر مينځ کيدای شي دلته يوه اړيکه را مينځ ته شي.

په اصل کې د ځواب ورکوونکو ترمنځ ګډ نظر داوو چې د حکومتدارۍ ډموکراتيک سيستم د افغانستان لپاره يوه غوره موخه ده. خو په دې هکله چې دا به څه ډول يو سيستم وي دلته لږ توپير او تناقض پخپله په مرکو او د مرکو د نسخو تر مينځ ليدل کيږي، خو سره له دې هم په دې هکله يو ځانګړی تمايل تر سترګو کيږي. په داسې حا ل کې چې د حکومت په ټاکنه کې د خلکو له ګډون څخه په پوره ډول ملاتړ شوی دی، دډموکراسۍ په بنسټيز تعريف کې د هغه مهمو ارزښتونو اضافه کول د فغانستان د اسلامي، وروسته له جګړې او اوسنۍ جګړې او د کمونيستي دورې څخه وروسته شرايطو د په پام کې نيولو سره خورا ځانګړې وو. دا د ځواب ويونکو له خوا په روښانه توګه څرګند شول چې د افغانستان د حکومت دارۍ په اوسني سيستم کې د بنسټيز ډموکراټيک کولو لپاره اړين کيفت شتون نه لري چې په ځانګړې توګه دا د هيواد د وګړو لپاره د سياسي استازيتوب سره د مرستې لپاره بسيا نه ده.

۶۹ د لا ر زياتو معلوماتو لپاره په افغانستان کې د خصوصي کولو د مسلې په اړه وګورئ، انا پيټرس او جيمز بليويت د آسف کريمي سره، د اس مخې ته د ګاډۍ ايښودل؟ په افغاسنتان کې خصوصي کوونه او اقتصادي اصلاحات، کابلد افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۲ )

۷۰ بيلا بيلې مرکې

۷۱ بيلا بيلې مرکې

# ۵. د ټاکنیز بهیر تجربې

د ډموکراسۍ د تعریف پر بنسټ، آزادې ټاکنې او په ټولټاکنوکې د رایه ورکولو ټولیزحق، د خپور بنسټیز سیاسي استازیتوب لپاره د بنسټیزو اصولو په توګه پیژندل شوي دي[۷۲]. لکه څرنګه چې د نوموړې څېړنې په ترڅ کې د مرکه شویو کسانو له خوا څرګنده شوه د غه برخه د سیاسي استازیتوب په هکله بحث کوي. لومړۍ، په ملي او ولایتي کچه د خلکو د استازیتوب د څرنګوالي تعبیر چې د تخنیکي بهیر او سازمانونو په برخه کې چې په سیاسي ډګرکې د خلکو د اندیښنو څرګندولو ته لاره هواروي تر بحث لاندې به ونیول شي. دویم، د خلکو نظریه د دوی د استازیتوب په اړوند، دواړه وګړي او ګوندونه، او د دوی د کړنو د شننې څرنګوالی. دریم،، پر انفرادي سیالو رایه ورکونکو ډلو او عقیدوي ملاتړو له تمرکز سره دا سوال په پام کې نیول کیږي چې دغه استازې د چا استازیتوب کوي[۷۳].

## ۱٫۵ د استازیتوب بهیر او ځایونه

په افغانستان کې د خلکو استازیتوب په رسمي ډول د ټاکنو د تخنیکي بهیر له لارې کیږي[۷۴]. د نوموړې سند لپاره ډیری مرکې د ۱۳۸۸کال د ولسمشریزې او ولایتي شوراګانو ټاکنو ته د تیارۍ په بهیر کې تر سره شوې دي، نو ځکه د ټول ټاکنو په اړه ځواب ورکونکو په براخه توګه بحث کړی لومړي او تر ټولو مهم نظر ، د ټاکنو پر بهیر د باور نشتوالی وو:

*[په ورستی ټاکنو کې] ما ولیدل چې زیات شمیر خلکو د ټاکنو څو کارتونه یې اخیستي وو، او په راتلونکو ټاکنو کې به هم په همدې ډول وي. زه په خپله دوه کارتونه لرم. یو د تیرو ټاکنو څخه او یو د ثبت د نوې پروسې څخه. زه داسې خلک پیژنم چې دوی د ۱۰ تر ۲۰ پورې کارتونه لري. که چیرې تاسو د ثبت مرکز ته ولاړ شئ نو دوی ستاسو څخه پوښتنه نه کوي چې آیا تاسې مخکې کارت اخیستی دی او که نه. دوی یوازې غواړي چې دا ونښيي چې د ثبت شمیر زیات دی[۷۵].*

*داسې ډیر دلیلونه چې ونښيي چې راتلونکې ټاکنې به شفافې نه وي، د ساري په ډول کرزی به په دغه بهیر کې د حکومتي سرچینو څخه په خپله ګټه کار واخلي. او همدارنګه د ټاکنو په وخت یو کس به د څو کسانو په استازیتوب رایه ورکړي چې دا قانوني نه دی او دا کار په افغانستان کې کیږي. په حقیقت کې هرڅوک دا حق لري چې د خپلې خوښې کس لپاره رایه ورکړي[۷۶].*

*زما نظر دا دی چې خلک افغانستان ته د ډیرو پیسو سره راغلي او د همدې پیسو په بدل کې د خلکو رایې رانیسي[۷۷].*

*په تیرو ټاکنو کې خلک ډیر هیله مند وو، خو دوی فکر نه کوي چې په راتلونکې کې به دوی په پریکړې کولو کې ونډه ولري، په*

---

۷۲ ذکریا ، د غیر لیبرال دیموکراسی منځته راتلل.

۷۳ دغه برخه د ځوابویونکو په اړه عمومی نظر وړاندي کوي، دا تصور چې دوي په څه ډول او د چا په واسطه په انفرادی او یا ډله ییز ډول وړاندي شوي دی. دا په افغانستان کې د استازیتوب د کیفیت په اړه د قضاوت لپاره کوم بنسټ نه دی، او یا دا چې په عمومی ډول د خلکو ګټی په څه ډول وړاندي شوی دی. دا به یو ډیر ستری مطالعی ته او زیاتو مصاحبه کوونکو ته اړتیا ولري.

۷۴ په افغانستان کې د ۱۳۸۸او ۲۰۱۰ کلونو د ټاکنو په اړوند د عامه نظریو په اړه هیله ده وګورئ، د بحران نړیواله ډله، ؛په افغانستان کې د ټاکنو ننګونی؛ د ایشیا رپورټ ۱۷۱ ګڼه، کال ۱۳۸۸د جون ۲۴ نیټه، www.crisisgroup.org/home/index.cfm?id=6176 مارتین بجلرت، په څه ډول د افغانستان ټاکنی وګټل شی؛ کابل د افغان تحلیلګرانو شبکه، د افغانستان د عامو خلکو د نظریو سروې، (د جمهوریت غوښتونکی نړیوال انستیتیوت، ۱۳۸۸کال د جولای میاشت. په www.iri.org د لاسرسی وړ دی.

۷۵ یو نارینه زده کوونکی د بلخ د ولایت څخه.

۷۶ یو نارینه ښوونکی د بلخ د ولایت څخه.

۷۷ یوه ښځینه ښوونکی د پروان د ولایت څخه.

*ځانګړې ډول په ولسمشریزو ټول ټاکنو کې، نو ځکه دا ځلې دوی نا هیلې دي*[۷۸].

د درغلیو انګیرل شوې اندازې په خپل وار سره د خلکو په سترګو کې یې د ټاکنیز بهیر په غیر مشروع کولو کې ونډه درلوده. په زړه پورې خبره دا ده چې یو زیات شمیر ځوابویونکو د ۱۳۸۳ ۱۳۸۴ کال په ټاکنو کې د پراخ فساد په شتون او د رایو د رانیولو په اړه خبرې وکړې، چې د نړیوالې ټولنې له ټاکنو وروسته په ټولیزه توګه مثبتو څرګندونو سره په په تضاد کې وي[۷۹]. دا کار د نړیوالو اهدافو په وړاندې د بې اعتمادۍ د رامینځ ته کیدو لامل شو او همدا راز هغه نظریه یې لا نوره هم پیاوړې کړه چې ګواکې د ټاکنو پایلې د بهرنیانو د لاس وهنو له لارې له پخوا څخه ټاکل شوې دي، چې دا په خپل ځای د پام وړ اندیښنې څرګندونه کوي[۸۰]. د وروستي نقل وقول د وړاندیزونو په څیر (کوم چې د ګڼ شمیرځوابویونکو د نظریو استازیتوب کوي) وړاندیز وشی، که چیرې خلک داسې و انګیري چې د دوی رایه ارزښتناکه نه ده او یا هم په حقیقت کې بې ګټې ده، نو یو وار بیا په ټاکنو کې د ګډون هڅونکې( انګیزه) په پراخه کچه را ټیټه شي او د بنسټیز سیاسي استازیتوب پایلې به نورې هم مبهمې شي.[۸۱] دا باید وویل شي،د مرکه شویو کسانو نیمایي برخه آن هغه کسانو چې د ټاکنیز بهیر په اړه یې خپله نا خوښي څرګندوله دا یې څرګنده کړه چې د هغه نیمګړتیاوو سره سره چې په بهیر کې وه دوی به په کې برخه واخلي. [۸۲]

د دغو معلوماتو پر بنسټ ددې اټکل امکان نه شته چې آیا درک شوې درغلی او یا له وړاندې نه د ټاکنو ټاکل شوې پایلې، په حقیقت کې د ټاکنو په ورځ د خلکو د ګډون د مخنیوي لامل شوی وي. په څرګنده توګه په ټاکنو کې ټیټه برخه اخیستنه، د اټکل له مخې ۳۰ تر ۴۰ سلنه پورې، د یو شمیر لاملونو لکه د نا امنی څرګندونه کوي. د رایه ورکونې څخه وروسته ورځو کې، که څه هم سیمه ایزې رسنیو ، نوماندو او رایه ورکوونکو ټول په یوه غږ سره د رایو د صندوقونو د ډکولو او په شمیرلو کې د درغلیو په اړه خبرې کولې او په داسې حال کې چې د رایو شمیرلو بهیر روان وو د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته یې خپل کلک شکایتونه وړاندې کړل. په حقیقت کې دا ددې لامل شو څو داسې رپوټونه چې ادعا کوي چې نوموړو ټاکنو په افغانستان کې دېموکراسي زیانمنه کړې خپاره شي.[۸۳] د دغه سند د لیکولو پر مهال، د نوموړو شکایتونو پایلې لا هم څرګندې نه وې، خو سیال نوماندې پردرغلیو تورنول او پر هغې د ټینګار موخه د یو مقام د لاس ته راوړولو لپاره خوراڅرګنده وه.[۸۴]

---

۷۸ د ټولنې یو نارینه مشر د پروان د لایت څخه.

۷۹ زیات شمیر مصاحبی، اندریو ولدر وکتل شی. یو تقیسم شوي کور: د افغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنو تحلیل. د ۱۳۸۴ کال د پارلمانی ټانکو په پروسه کې د فساد په اړوند یو جامع بحث.

۸۰ دا په زړه پوری ده چې وویل شی د لویس دوپری سند په ۱۰۶۲ کال کې په کابل کې د ښاروالی ټاکن د ملی خبره ګانو په واسطه لکه وزیران نه د بهر څخه، له مخکې تعین شوي وو. دوپری، د یموکراسی په لور د افغانستان کرار خوځښت.

۸۱ دغه تصور چې د ټاکنو پایلی د بهر له خوا له مخکې تعین شوی دی شاید د دی خبری لامل وي چې د ولسمشریزی ټاکنی دویم دور ته ولاړ شی، چې په ۲۰۱۰ کال کې د پارلمان ټاکنی هم شاید ورته قضیی سره مخامخ شی. پداسی حال کې چې کیدای شی دغه موضوع هم د درغلی او د رایو د رانیولو د موضوع ګانو څخه متاثره شی، خو دوي به ووینی چې د نړیوال مداخله په پایلو کې ډیره لږه وي. کیدای شی دا د دی تصور له امله وي چې نړیواله دلچسپی په ولسی جرګه او ولایتی شوراګانو ټاکنو کې دومره مهمه نه وي څومره چې د وي تاثیر او اغیزه د افغانستان په ملی پالیسی کې کمرنګه ده. د دی خبری په ویلو سره، د ګاونډیو هیوادونو مداخله په ولسی جرګه کې به زیات او په ولایتی شوراګانو کې ډیر لږ وي. ځکه داسی شکونه شته چې ایران او پاکستان غواړي د پارلمان په سیاست کې مداخله ولري.

۸۲ دا هم حتمی نه ده چې دغه موضوع په پروسه باندی د اعتماد ښکارندوي وي. د برخی اخیستلو دغه پریکړه کیدای شی څو فکتورونه ولري: جبر او اکراه او یا هم د ځآیی شخصیتونو تر منځ مقابله.

۸۳ هوانا مارکینګ؛ دا به افغانانو ته توهین وي که چیری اعلان وشی چې ټاکنی بریالی وو ؛ ګاردینز، ۱۳۸۸د لړم ۱

۸۴ دغه پدیده به د زمور په راتلونکی سند کې(د ۱۳۸۸کال ټاکنی) تر بحث لاندی ونیول شی.

بله مسأله چې باید په پام کې ونیول شي، د ټاکنو د تخنیکي بهیر انګیرل شوې پایلې ، د استازو موسسو د ګټه ورتیا او پایښت له نظره دي چې خپل نوماندې یې ټاکلې وو. ټاکل شوې وګړې او ګوندونه به د دغه سند په **5.2** برخه کې تر بحث لاندې ونیول شي. خو په خپله د دغو موسسو تصور د خپل زیات منفي طبعیت له امله د یادولو وړ دی:

*ځینې وختونه تاسې په دې نه پوهیږئ چې په کابل کې څوک پیاوړې دی او مهمه ونډه لوبوي. د ساري په ډول ټولو زورواکو هڅه وکړه چې سپېنتا د بهرنیو چارو وزیر له خپل مقام څخه استعفا ته اړباسي او د پارلمان ډیری غړو د دې غوښتنې ملاتړې وو ، خو هیڅ او نه شو کړای هغه له خپل مقام څخه استعفا ته اړکړي. ې هغه ری کړی. دا فقط کرزی وو چې د هغه ملاتړ یې کولو او په پای کې هیڅ هم د کرزي د ددغې پریکړې سره مخالفت ونشو کړای.*[85]

*خو په تاسف سره د پارلمان د نامناسب جوړښت له کبله د خلکو هیلې تر سره نه شوې. په پارلمان کې دننه د مذهب، ګوند، قوم او شخصیت پر سر سیالی دي... په دغه پارلمان کې هغه کسان چې مالی سرچینی په خپل واک کې لري ګټونکې دي ، او یواځې همدغه کسان دي چې د لوبې فرصت لري.*[86] *د پارلمان غړو په کلکه هڅه وکړه خو د حکومت لوړ پوړو چارواکو د هغوي خبرو ته غوږ نشول*[87]*.*

د پارلمان دغه شکمن تعبیر ، د خلکو د اندیښنو او غږ د پورته کولو د بنسټ په توګه حیرانونکی نه دی ، د دوی څلور کلنې دندې ته په پام سره ، دا د پارلمان د غړو د خپلو نه تر سره شوو بالقوه لاسته راوړنو او همدارنګه د خلکو د نه تر سره شوو هیلو ثرګندونه کوي. لکه څرنګه چې پورته په دوهم نقل وقول کې هم څرګند شو، هغه څه چې خورا حیرانونکی دی هغه د اجرائیوي یا ولسمشریز څواک په وړاندې د پارلمان د مقایسې وړ انګیرل شوی اهمیت دی. د پارلمان په واسطه داکتر سپنتا ته د نه اعتماد د رایې مثال، په پر له پسې ډول په مرکو کې یاد شو، چې ددې څرګندوی دی چې دغه د پارلماني صلاحیت څخه روښانه سرغړونه به په عامه کچه نا څرګنده پاتې نه شي او ددې لامل شو څو پارلمان ته د پریکړو کولو د یوې ډلې په توګه د شک په سترګو وکتل شي.

د افغانستان په اساسی قانون کې ولایتي شوراګانې په هیواد کې د ځایي او ملي کچې سیاست تر مینځ د اړتیاوو د پوره کولو د یوې وسیلې په توګه څرګند شوې دي. خو خپل اعتبار یې د یو کم ارزښته بنسټ په توګه څرګند کړی، کوم چې سیاسي نفوذ یې د والیانو سره د ددوی پر اړیکو ولاړ او په سیستماتیکه توګه د بهرنیو فعالینو له خوا ځارل کیږي.[88] د ولایتي شوراګانو دندې لا تر اوسه مبهمې دي او د مرکز څخه کومه د پریکړې کولو کومه مهمه دنده ورته نه ده سپارل شوې.[89] د بلخ او پروان په ولایتونو کې، ځوابویونکو د نورو غیر رسمي مشرانو او یا مذهبي شوراګانو په اړه وغږیدل چې تر ولایتي شوراګانو زیات ځواکمن دي او د ولایت په سیاسي او پراختیایي پریکړو کې ډیر زیات نفوذ لري[90]. سره له دې د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې، په داسې حال کې چې د نړیوالې ټولنې زیاتره پام د ولسمشریزې ټاکنو ته اړول شوې وې، په ټولو دریو ولایتونو کې چې د نومورې څیړنې لپاره ټاکل شوې وو ، د ولایتي شوراګانو لپاره د نوماندانو شمیر د ۱۳۸۴ کال په پرتله زیات وو او یو زیات شمیر لمسونکې پوسترونه خپاره شوې وو.[91] په داسې حال کې چې د بلخ په ولایت

---

۸۵ یو نارینه ښوونکی د کابل څخه.

۸۶ د ټولنې نارینه مشر، د کابل د ولایت څخه

۸۷ ښځینه زده کوونکی د بلخ د ولایت څخه

۸۸ آی سی جي: په افغانستان کې سیاسی ګوندونه ۳-۴.

۸۹ د ولایتي شوراګانو قانون ۲ او **۵** مادې ولیدل شي څرنګه چې په آی سی جي کې هم تکرار شوی دی.

۹۰ د بلخ په ولایت کې دغه د مشرانو شورا او په پروان ولایت کې د عالمانو د شورا په نامه یادیږي.

۹۱ د بلخ په ولایت کې په ۱۳۸۴ کال ۱۱۹ کاندیدان ځانونه ثبت کړي وو خو په ۱۳۸۸ کال کې ۱۳۸.

کې د ۱۹ ولایتی شورا څوکیو لپاره د نوماندو شمیره ډېرزیات وو ، د ولایتی شوراګانو یو زیات شمیر بانفوذه کسانو خپل نومونه یې بیا راجستر نه کړه ، د خلکو به مینځ کې داسې انګیرنې وې چې دوی په ۱۳۸۹ کال کې د ولسي جرګې د څوکیو لپاره مبارزه کوي. نو په داسې حال کې چې ولایتي شورا د استازیتوب د ظرفیت له مخې د یوه کمزورې بنسټ په توګه پېژندل شوی ، خو سره له دې هم نوماندو ته د لوړو سیاسي دندو د ترلاسه کولو لپاره د یو ارزښتناک ګام په توګه په نظر کې نیول کیږي.[92]

سر بیره پردې د ولایتي شوراګانو د ګټورتیا او اغیزمنتوب په اړه پوښتنې هم د دې لامل نشو ې چې په ۱۳۸۸کال کې د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د خلکو د ګډون څخه مخنیوی وکړي. د هغو مرکو پر بنسټ چې د ټاکنو په ورځ د رایه ورکوونکو او هغو کسانو سره چې رایې یې نه ورکولې تر سره شوې، داسی نه ښکاریده چې د ولایتی شوراګانو درک شوې ونډه به په رایه ورکولو کې د خلکو د ګډون او نه ګډون ټاکونکی لامل وي.[93] په حقیقت کې د ولایتی شوراګانو رسمي قانوني دندې، له دې سره چې ولی خلکو رایې ورکړې ډېر لږ اړیکه لري، د هغو کسانو سره چې مرکې شویدي د نوماندو د قومی او ځایی اهمیت باندی د ټینګار پر ځای ، دټاکل شوې استازې په راتلونکو خدمتونو یې خورا ټینګار درلود.

په لنډ ډول، په دغه څېړنه کې د ځواب ویونکو له خوا په افغانستان کې په زیاتو برخو کې د سیاسی استازیتوب بهیر او ځایونه غیر اغیزمن و بلل شول. په داسې حال کې چې دا د دوی د له مینځه وړلو په مفهوم نشي کیدای، خو دا د استازو بنسټونو د کیفیت پر وړاندې عامه ناهیلي څرګندوي ، چې کیدای شي د ډموکراتیکې حکومتدارۍ د مخ په زیاتیدونکې منفی تصور لامل شي.

## ۲,۵ استازیتوب: وګړي او ګوندونه

دا ډېره مهمه ده چې په ۱۳۸۴کال کې عامه درک د وګړونیزو ټاکل شویو استازو په اړه وسپړل شي. لاندنې څرګندونې د زیاترو ځوابویونکو استازیتوب کوي چې په ټینګه په خپلو پارلماني غړو باندي نیوکه کوي:

*که چیری موږ د بلخ ولایت ته ځیر شو ، دغه ولایت د استازیتوب له نظره یو ډېر کمزوری ولایت دی ځکه آن ۵ سلنه خلک هم د پارلمان د غړو څخه خوښ نه دي. تر دې مهاله زه دا په یاد نه لرم چې د پارلمان یو غړی د رسنیو سره په بحثونو کې برخه واخلي او د بلخ ولایت په اړه خپل لید لوری څرګند کړي. په همدې ډول د پارلمان غړې د" کمیشن کار" په ډول کوي که څوک غواړي چې په حکومت کې یې کوم کار تر سره شي نو باید د پارلمان غړو ته پیسې ورکړي نو بیا د دغه د پارلمان غړی د هغه کار تر سره کوي[94].*

*که چیرې خلکو د پارلمان غړې ټاکلي، نو د دو ی ټاکنه په پټو سترګو وه او اوس دوی له دغې ټاکنې نه پښیمانه دي. د پارلمان غړو ژمنه کړې وه چې دوی به د کنډو ، ځوانانو او ښوونځیو لپاره یو څه وکړي ، خو دا ټولې ژمنې په بشپړه توګه دروغ وو. د پارلمان د غړو به مینځ کې یوالی نه شته او په پارلمان کې د ننه یو بل سره د او بو د بوتلونو په واسطه جګړه کوي. موږ نور داسې یو پارلمان نه غواړو ، دوی خلکو سره ژمنه کړې وه چې ښوونکو لپاره به کوچنې ښارګوټې جوړ او د دوی معاش به زیات کړي، خو دوی یوائې د خپل د معاشونو د زیاتوالې وړاندیز وکړ، د خپل ځان لپاره یې ودانۍ جوړې کړې او موږ یې هیر کړو[95].*

*د پارلمان ټول غړې د خپلو ګټو لپاره کار کوي او د خپل مقام په ساتلو او د پیسو په سپما کولو کې بوخت دي. دوی هیڅکله هم د خلکو*

[92] د ولسی جرګی د څوکیو لپاره ترغیب بیلابیل دي او د ملاتړ د لاسته راوړولو لپاره زیات فرصتونه به منځته راوړي.

[93] د انجو یو نارینه کارکوونکی د بلخ د ولایت څخه.

[94] یوه ښځینه ښوونکی د پروان د ولایت څخه. د پارلمان غړو ته بوتلی اوبه ورکړ کیږی خو دوي د دغو بوتلونو په واسطه یو پر بل باندی واری کوی.

*خدمت نه دی کړی. کله چې موږ د کومې ستونزې سره مخامخ شوي یو نو د دوی له خوا هیڅ ډول مرسته زمونږ. سره نه ده شوې. د پارلمان غړې په خپلو شخصیکارونو کې بوخت دي*[92]

په اکثرو قضیو کې، د پارلمان پر غړو د هغو کړو ژمنو د نه تر سره کیدو له امله چې د کمپاینونو پر مهال یې کړې وې نیوکې وشوې ، همدا راز دوی ونشو کړای چې اساسي خدمتونه په عملي توګه وړاندې کړي نو ځکه خو دا د دوی رښتینیې ونډه د قانون جوړونکو او د خدمتونو د چمتوکونکو په توګه مغشوشوي. په نورو قضیو( اکثراً مګر نه په ځانګړې توګه په ښارونوکې) کې ځوابویونکې ددې پر ځای چې وګړې ګرم کړي نو د بنستیز استازیتوب د نشتوالي له امله یې ټاکنیز او یا هم پارلماني سیستم ګرمولو ته لیواله وو او داسې استدلال یې کولو چې د پارلمان د یوه غړي دنده د خلکو د ګټو استازیتوب دی. مګر نورو ځواب ویونکو لکه په پورتني لومړي نقل وقول کې ، د عامه استازیتوب او د موکلینو سره د اړیکو پر نشتوالي خبرې وکړې. په ځینو ولسوالیو کې خلکو د مرکو په ترڅ کې څو ځله دا خبره وکړه چې د پارلمان غړو د ۱۳۸۴ کال د کمپاین راهیسې بیا یې د دوی سره نه دي لیدلي:

*نه د پارلمان او نه هم د ولایتي شورا غړو کوم ښه کار کړی. موږ یواځې دوی مو د کمپاین پر مهال ولیدل او له هغه راهیسې دوی هیڅ کله هم ولسوالی ته نه دي راغلي تر څو د خلکو سره وګوري او د دوي د ستونزو څخه په اړه خبرشي*[97].

په دې توګه په دواړو کلیوالي او ښاري سیموکې د موکلینو او د دوی ټاکل شویو استازو تر منځ د اړیکو د نشتوالي په اړه خبرې وشوې.[98] په زړه پوری دا ده ، دغه تشه نه یواځې ددوی د خبرو له لارې چې د پارلمان د غړو سره د اړیکو د نشتوالي په اړه غړېدل څرګندیده، بلکې له دې څخه هم په ډاګه کیده چې دوی څوک په پارلمان کې د خپل د استازې په توګه مني، دا خبره د بلخ د ولایت څخه په لاندیني ځواب کې روښانه شوې:

*موږ په پارلمان کې هیڅ استازی نه لرو، خو زه د بدخشان د ولایت په هکله یو څه معلومات لرم. دوي په پارلمان کې یو کس لري خو دغه کس د خپلو خلکو لپاره هیڅ هم نه دي کړي. زه پوهیږم چې د پارلمان غړې هیڅ کله هم د خلکو لپاره کار نه کوي او دوی یواځې خپل ځانونه مروي*[99].

*د خلکو استازی باید د دوی له منځه وي، هغوی باید د خپل خلکو په منځ کې ژوند وکړي تر څو خلک هغوی وپیژني، د خلکو سره بلد واوسي. هغوی باید د خلکو په ستونزو خبر وي. زموږ د ولسوالی څخه چې د ولایت په کچه تر ټولو ډیر نفوس لري، په پارلمان کې کوم استازی نه لرو.*[100]

*د کرزي په وخت کې ټول پام یواځې د ولایت په مرکز باندې متمرکز وو. ټولې مرستې د ولایت مرکز ته راځي او هلته لګول کیږي، پداسې حال کې چې ولسوالی په بشپړ ډول له پامه غورځول شوې دي. هیڅوک د ولسوالیو په هکله خبرې نه کوي، آن دا چې والی هم یواځې ښار ته یې خپل پام اړولی څو نړیوالې ټولنې ته ځان ډیر فعال وښیي. په حقیقت کې دوی د خلکو اکثریت له پامه غورځولی او دوی هېر شوې دي. د پارلمان غړې هم یواځې د ولایت پر مرکز تمرکز کوي. په تیر ټاکنو کې د پارلمان غړې د ولایت په کچه وټاکل شول ، نو په دې توګه*

۹۲ یو نارینه ښوونکی د کابل د ښار څخه

۹۷ د ټولنې نارینه مشر د بلخ ولایت څخه.

۹۸ البته دا په ثابت دیموکراسی که غیر عادی نه دی.

۹۹ یوه ښځینه ښوونکی د بلخ د ولایت څخه.

۱۰۰ یو نارینه ښوونکی د بلخ د ولایت څخه

*ولسوالۍ په بشپړ ډول له پامه وغورځېدې! د نوماندو په اړه د معلوماتو د نشتوالي له کبله خلکو و نشو کړای چې د ښه او بد نوماند تر منځ توپیر وکړي.*[۱۰۱]

پداسې حال کې چې د دغه ولایت لپاره په پارلمان کې ۱۱ څوکۍ ټاکل شوې وې[۱۰۲]، لومړي ځوابویونکې چې په پورتنۍ برخه کې یې خبرې وکړې څرګنده یې کړه چې د هیڅ یو سره هم معرفت نه لري، دویم کس له دې حقیقت سره سره چې د پارلمان غړې د ولایتونو په کچه ټاکل شوې دي نه د ولسوالیو په کچه په پارلمان کې د استازیتوب د نشتوالي په هکله یې خپل نظر څرګند کړ. دا ټینګار کوي چې رښتینې او اصلي استازیتوب یوه ژوره ځایي دنده ګڼل کیږي، کوم چې د ټولنې د اندیښنې ور مسألو لپاره هڅه او هاند کوي، او هغه څوک چې ددوی په اړه پوره معلومات ونه لري نشي کولای چې دغه مسوولیت په ښه توګه پر مخ بوځي. دا اکثراً د ټولنې سره د آشنایی د نشتوالي له امله پیدا کیږي. نو ځکه دغه د پارلمان او ولایتي شوراګانو د رایې د حق څخه په نسبي توګه محرومیت د ولسوالیو څخه دنه استازیتوب لامل کیږي.[۱۰۳]

دغه په افغانستان کې د سیاسي استازیتوب ځایي طبیعت د هغو مرکو په ترځ کې چې د ټاکنو څخه وړاندې او د ټاکنو په ورځ تر سره شوې را برسیره شوی دی. چې په هغه کې دا روښانه شوه چې د خلکو د رایه ورکولو دلیل، د هغه په نسبت چې رسنۍ یې ادعا کوي ، د ځایي توب څخه خورا لیرې دی. (د بیلګې په ډول د طالبانو په وړاندې ټولیزه سر غړونه).[۱۰۴]

ځوابویونکو د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ټولنې د مشرانو او په سیمه کې د مشهورو څیرو او هغه کسانو چې ددوی د ستونزو په هکله ښه خبر وو لپاره د رایه ورکولو په هکله وغږیدل. په داسې حال کې چې دې کار په همدې سیمه کې د نورو نوماندو چې د همدې رایو لپاره یې مبارزه کوله مخه نه ده نیولې، او کله چې د رایو پایلې اعلانیږي نو د واحدې او دنه لیږد وړ رایه ورکولو د سیستم د پایلې په توګه رایې به د ډیرو ټولنو تر مینځ ویشل کیږي او په دې توګه هیڅ یو نوماند به بریالۍ نه شي. پایله یې دا ده چې زیاتره افغانان به یو ځل بیا په ولایتي شوراګانو کې ځان بی استازې وګڼي. د منفرد استازیتوب د نظریې سره یو ځای، په دې څیړنه کې د ګوندونو د سیاست او استازیتوب په اړه د عامو خلکو نظرونه هم سپړل شوې دي.[۱۰۵] د ګډ باور پر بنسټ په افغانستان کې ګوندونه په کورنیو او [۱۰۶] قومي جګړو کې د تړاو له کبله خلکو لپاره د منلو وړ نه دي[۱۰۷]. چې دا د غو ګوندونو په اړه د ځینو ځوابویونکو له انګیرنو څخه څرګندیدل:

*ډیر زیات ګوندونه شته او د دوی یو شمیر یې د یو ځانګړې نوماند څخه ملاتړ کوي. که چیری یو کس د یو ګوند څخه ولسمشر شي نو هغه به خپله کابینه د خپل ګوند له غړو څخه جوړه کړي، او بیا د دوی او د ناکامه ګوند تر منځ جګړه به پیل شي*[۱۰۸].

---

۱۰۱ یوه ښځینه ښوونکې د بلخ د ولایت څخه.

۱۰۲ د پارلمان څوکۍ په هر ولایت کې د نفوسو په اندازه معین کیږي.

۱۰۳ دا تر یو حده پورې د ولایت په سطح کې هم واقع کیږي. مګر دا چې په ولایت کې د ولسوالۍ استازی هم شامل وي. د منفرد او د انتقال نه وړ د رایې سیستم د نامحدود او څو غړو رایو ورکولو په معنا چیرته چې څو کسان کولای ځان کاندید کړي او په دې ډول د خلکو رایه د دوي تقسیم کیږي او هیڅوک نه شي کولای په لوړه کچه ګټونکی شي.

۱۰۴ نوها کومبا او آنالارسن،

۱۰۵ دغه موضوع د ای آر ای یو د تیر سند په تعقیب راغلې،(لارسن، د افغانستان نوي دیموکراتیک ګوندونه)

۱۰۶ په افغانستان کې سیاسي ګوندونه خپل معین تعریف نه لري ځکه چې دوي په رسمي ډول په ټاکنو کې یو بل سره موافقه نکوي

۱۰۷ د نړیوال بحران ډله ؛ په افغانستان کې سیاسي ګوندونه؛

۱۰۸ نارینه زده کوونکی د پروان د ولایت څخه

*زموږ ګوند ادعا کوي چې یو سیاسي ګوند دی خو په حقیقت کې یوه پوځي ډله ده. کله چې دوی وغوښتل چې سیاسي ګوند شي نو دوی په یوه قومي ډله بدل شول. په خواشینۍ سره په افغانستان کې هر عمل او د هر ګوند عمل افراطي دی*[۱۰۹].

*پښتیرو ټاکنو کې په دغه سیمه کې سیاسي ګوندونو په ټاکنو کې هیڅ ډول ونډه نه درلوده نو ځکه موږ نښې او سوله ایزې ټاکنې درلودلې. په ښار کې دا ډول نه وو، ګوندونو په ټاکنو کې ونډه درلوده او خلک یې هڅول چې د دوی د ګوند په ګټه رایه ورکړي*[۱۱۰].

دا باید وویل شي، چې دګوند د سیاستونو په هکله خورا ژور لرلیدونه په راټول شویو معلوماتو کې په بشپړه توګه ځرګند دي. د سیاسي فعالینو په توګه د ګوندونو د بالقوه ګټورتیا په اړه یو ټولیزګډ نظر موجود دی، که څه هم چې په رسمي توګه نه دی تعقیب شوی. خو په افغانستان کې ګوندونه د دغه مسولیت د منلو لپاره ډیرې نیمګړتیاوې لري.

زما په آند ګوندونه بد نه دي، که چیرې ګوندونه د ځانګړې مرام لپاره کار وکړي نو ګوندونه ښه دي خو له بده مرغه په افغانستان کې ګوندونه د خپل ځان او یا هم د خپلو ګټو لپاره کار کوي. که چیرې دوی د ملي ګټو لکه ښوونې او روزنې، روغتیا او داسې نورو لپاره کار وکړي نو دا به ډیر ښه وي خو دوی دا کار نه کوي. اوس مهال ټول موضوع د ژبې موضوع ده او دا دی لامل شوی چې خلک د هوساینې احساس نه کوي. پخوا هم ګوندونو دخلکو لپراه نه بلکې د خپل ځان لپاره یې کار کړی. نو ځکه خلک د ګوندونو څخه د دوی د تیرو کړنو له امله ښه خاطره نه لري. که چیرې ګوندونه یوه ښه ونډه ولوبوي نو دوی د سولې او امنیت لپاره په راوستلو کې مرسته کولای شي[۱۱۱].

په افغانستان کې ګوندونه د خلکو په مینځ کې ښه ونډه نه لري. سیاسي ګوندونه باید د خلکو په ستونزو خبر وي او هغه باید حکومت ته وړاندې کړي او په دې ډول سیاسي ګوندونه کولای شي په ټولنه کې خپل رښتینی ځای ومومي. خو اوس ګوندونه په ټولنه کې او د هیواد د پالیسي جوړولو په بهیر کې کومه ونډه نه لري. اوس خلک د ګوندونو منلو ته پوره چمتو نه دي. په نورو ټولنو کې سیاسي ګوندونه د پالیسي جوړولو په بهیر کې ستره ونډه لوبوي. په نورو ټولنو کې د هغوی سیاسي ګوندونه دي چې د خلکو ستونزې او غوښتنې په ښه کوي[۱۱۲]

په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو په اړه مهم شکایتونه دا دي: دهغوی د شمیر زیاتوالی، ورته تګلاره ،د ظرفیت او ایدیالوژیکي بنسټ نشتوالی، قومي تمرکز او د ملي ګټو نشتوالی. وروستنی یاد شوی ټکی د خلکو په منځ کې د ګوندنو د ویشلو د تصور سره مرسته کوي (په ځانګړی ډول د قوم پر بنسټ) چې دا په خپله د ملي یوالې پر ضد دی.

که چیرې د سیاسي ګوندونو تر مینځ یووالی وي نو دا به ډیره ښه وي خو له بده مرغه چې دلته داسې نه دي او دوی د یو بل پر خلاف دي[۱۱۳] موږ په تیر وخت کې مو ډیر زیات ګوندونه آزمویلې دي چې دوی د منفي سیالۍ له لارې په غلطه لاره روان وو. په تیر وخت کې ګوندونو دخلکو لپاره نه بلکې د ځان لپاره یې کار کاوه. باید په افغانستان کې په یو ټاکلي وخت کې یو ځواک موجود وي۱۱۴ نه دا چې بیلا بیل ځواکونه او بیلا بیل مشران په یوه وخت کې.

---

۱۰۹ حکومتی ځوان کارکوونکی د بلخ د ولایت څخه

۱۱۰ ښځینه ښوونکی د بلخ د ولایت څخه

۱۱۱ ښځینه استازه د بلخ د پوهنتون څخه

۱۱۲ مذهبی نارینه ښوونکی د کابل د ولایت څخه

۱۱۳ ښځینه زده کوونکی د پروان د ولایت څخه

۱۱۴ نارینه دوکاندار د کابل د ولایت څخه

*د عدليې وزارت بايد يوائې هغو ګوندونو ته د فعاليت اجازه ورکړي چې يو ملي لرليد لري او د ټولو افغانانو لپاره کار کوي، نه يوائې د خپل قوم او داسې نورو لپاره. اوس موږ وينو هغه خلک چې د ګوندو غړې دي خو دوي د عامه ګټو پر ځای د خپلو ګټو لپاره کار کوي. د دوي په منځ کې هيڅ ډول همغږي نشته.*[115]

د ډلو ترمينځ د سياسي سياليو په وړاندې دغه ټوليزه کرکه دا څرګندوي چې دوی د سياسی اپوزيسيون په مقابل کې ډير ځان ناکراره احساسوي. دا کيدای شي له يوې خوا له هغه حقيقت سره اړيکه ولري چې په افغانستان کې سياست يو خورا مرکزي سيستم دی يعنی د هيڅ لوبه- او ګټونکې ټول شيان وړي، د سياسی سيالانو( اپوزيسيون ) د کلتور هڅونه کيدای شي چې د پام وړ ګواښونه ولري.[116] له بل لورې په هغه هيواد کې چې ډير ځله د نظر د يوالې سياستونه عملی شوې وي، د هغه پر بنسټ تر څو چې د پريکړې کولو د ډلې هر يو فعال په ګډه د يوې پايلې په اړه موافقه ونه کړي نو هغه پريکړې نه شي تر سره کيدای، په ټوليزه توګه د ډيريو قوانينو او مخالفينو اصول ګډې ځانګړتياوې نه لري.[117] د مخالفينو څخه د مخنيوي اړتيا هم په بی ثباته شرايطو کې د ثبات له غوښتنې سره ، او د سولې د مختلونکې خوځښت د ملاتړ په وړاندې بی ميلی سره اړيکه لري. پوزيسيون څخه ډډه وشی هم په يو ماتيدونکې محتوا کې د پاينښت سره اړيکه لري او په خپل سره هر د حرکت ملاتړ وشي چې کيدای شی سوله خراب کړي. هغه اپوزيسيون چې په سياسی اختلافاتو پيل کوي کيدای شي زوروري شخړې رامينځ ته کړي. د سياسی ډلو ترمنځ د وروستنی کورنۍ شخړې د تجربې ته په پام سره [118] په حقيقت کې دغه انديښنه د درک وړ ده، د دې حقيقت په پام کې نيولو سره چې د شلمې پيړۍ په اوږدو کې د افغانستان په سياسي تاريخ کې د ډلو ترمنځ د مخالفتونو د سوله ايز پای کوم دود نه ليدل کيده او د ګوندونو يا نوماندو په منفي توګه سيالي کول په بشپړه ډول حيرانونکې نه ده.

خو دا به د ډموکراتيک کولو انګيرنه تر پوښتنې لاندې راولي چې آيا د جګړې څخه وروسته هيوادونو کې د ثبات راوستلو د ځواک په توګه به عمل وکړي. د څو ګونديزې سيالی هڅول کيدای شي د ډموکراتيک نظام پر لور تر ټولو ښه لاره وګڼل شي چې په ډموکراټيکو هيوادونو کې د سياسی سيستم د موډل پر بنسټ ولاړ دی. خو دې حقيقت ته پاملرنه نه کيږي چې چې ګوندونه د ډلو تر مينځ پر ويشلو ټينګار کوي.[119]

داسې بايد ونه ويل شي چې د افغانستان ګوندونه ځکه چې د سياسي استازيتوب په ډګر کې بی ربطه دي بايد منسوخ شي. د ۱۳۸۴ کال په پارلماني ټاکنو کې سياسي ګوندونو وکولای شول چې د نوماندو د ملاتړ په موخه يوه ستره ډله آن که ددوی سره يې رسمی او يا غير رسمي اړيکې هم درلودلې، د واحدې او د نه ليږد وړ رايې ورکونې سيستم چې په څرګندډول د ګوندونو لپاره د منلو وړ نه وو ، او خلکو د هغې کرکې سره سره چې ددوی په وړاندې يې درلودله چمتوکړي.[120] همدارنګه، د ځينو ټاکلو ډلو لپاره د سياسي هويت او تړاو د څرګندولو يوه مهمه وسيله ده. دا په ځانګړې ډول د پخوانيو مجاهدينو ډلو او ګوندونو په اړه صدق کوي، چې په فعال ډول د رايه

---

۱۱۵ نارينه ښوونکې د کابل د ولايت څخه.

۱۱۶ د ساری په ډول د بلخ والی د داکتر عبداله پر خوا ولاړ وو چې د کرزی ضد وو که چيری کرزی وګټی نو کيدای دی خپل د ولايت څوکۍ له لاسه ورکړی.

۱۱۷ په داسی حال کې چې دغه وينا ډير عمومی دی، د دغی مطالعی څيړنی د عمومی پريکړې په قومی او جيوګرافيکی بيلابيلو ټولنو کې شواهد وموندله.

۱۱۸ وروستنی مثالونه په ۱۹۹۰ کلونو کې د مجاهدينو ډلو ترمنځ جګړه وو چې د کابل د زياتی برخه د خرابيدو سبب وشو.

۱۱۹ د جګړې څخه وروسته ديموکراتيک کول او د هغه بالقوه نه پاينښت اغيزی.

۱۲۰ د تحليل لپاره چې په څه ډول په ۱۳۸۴ کال کې ګوندی کانديدان کامياب وو.

*ورکوونکو د شبکې په چمتو کولو کې( ډیر ځله د قوم او مذهب پر بنسټ) د بریا تر بیلابیلې درجې پورې ونډه درلودله.*[121] *خو ډیری ځوابویونکو په څرګند ډول د ګوندونو د فعالیتونو او د خلکو د ګټو د ربښتینې استازیتوب د ورتیا په اړه یې پر دوی نیوکې درولودلې.*

## ۳٫۵ د چا استازیتوب

وروستۍ ټکۍ چې باید د استازیتوب په اړه یې یادونه وشي هغه دا پوښتنه ده چې په حقیقت کې د افغانستان په ډموکراتیک سیسټم کې د چا څخه استازیتوب کیږي. په داسې حال کې چې ځینو ښاری ځوابویونکو د ټاکل شوې نوماند لپاره د افغانستان د هر یو وګړې د رایې ورکولو اړتیا ته اشاره وکړه خو د کلیوالي او ښاري سیمو څخه یو زیات شمیر را غونډ شوې معلومات رایه ورکولو ته د یوې ټولیزې پروسې په توګه اشاره کوي:

*(په تیرو ټاکنو کې) موږ په خپله سیمه کې د کلیوالو استازو څخه معلومات تر لاسه کړل او بیا مو پریکړه وکړه چې یوه مناسب نوماند ته رایه ورکړو.*[122]

*موږ غوارو چې داکتر عبد الله ته رایه ورکړو او دا پریکړه مو د خپلې کورنۍ سره وکړه، ځکه چې نوموړې د جهاد پر وخت ډیرې ستونزې ګاللې دي او هغه د افغانستان په اړه ډیر معلومات لري. نو ځکه موږ پریکړه وکړه چې هغه ته رایه ورکړو.*[123]

*په ولایتونو او کلیو کې خلک ډیر ساده دي نو ځکه ګوندونو د کلیو د مشرانو له لارې د خلکو د هویت کارټونه د کلیو د مشرانو له لارې د راتلونکو ټاکنو لپاره راټولوي.*[124]

افغانستان یوه انفرادي نه بلکې یوه یوه ډله ایزه ټولنه ده؛ په هر ځای کې، قبیلې، قومونه، مذهبي ډلې او سیمه ایز یا کلیوالي سیسټمونه شتون لري. خلک پر هغه څه چې د قومي مشرانو له خوا ورته ویل کیږي عمل کوي. د ډموکراسۍ یو اصل دا دی چې هر عاقل وګړۍ آزاد دی. حکومت باید ورتیا ولري او په په څو ډلو پورې محدود نه وي. په یوه ډموکراتیک حکومت کې باید بیلا بیلې مفکورې وڅول شي او ډلو ته نه بلکې وګړو ته پاملرنه وشي. په ډموکراسۍ کې هر وګړۍ د بیان حق لري.[125]

څرنګه چې د څلورو ځواب ویونکو له خوا پورته څرګنده شوه د افغاني ټولنې د ماهیت له امله یو شمیر لاملونه شته چې له د ډله ایزې واحدې رایې ورکونې په لور له دغه څرګند میلان سره مرسته کوي. دغه لړلید تر یوه حده د کلیوالو سیمو څخه په راغونډ شویو معلوماتو کې ثابته شوې په کوم کې چې خلک له یو بل سره په توافق کې د یوه ټاکلې نوماند په اړه په ډله ایزه توګه پریکړه کوي. دوي ښکاره مثال لیدل کیده چې ټولنۍ د ټاکنو لپاره د نوماندانو په باب موافقۍ ته رسیږي او په ټولیز ډول پریکړه کوي[126]. البته څرنګه چې ځواب ورکوونکو مخکې ورته اشاره وکړه، دا د هغه فردي اصالت سره چې په لویدیځ لیبرال ډموکراسۍ کې ورته درناوی کیږي سمون نه لري. او د لوستو خلکو او ښاري نخبه ګانو په مینځ کې دا اندیښنه هم را پیدا کوي چې د افغانستان ډیری بیسواده خلک به هغه

---

۱۲۱ د بلخ ولایت ، یوه ښځینه ښوونکې

۱۲۲ د بلخ ولایت ښاري سیمه، یوه ښځینه زده کونکې

۱۲۳ د کابل ولایت ښاري سیمه، یو نارینه اتۍ وال

۱۲۴ ښځینه ښوونکې د بلخ د ولایت څخه

۱۲۵ نارینه دوکاندار د پروان د ولایت څخه

۱۲۶ نارینه ښوونکې د بلخ د ولایت څخه.

نوماند ته د رایې ورکولو لپاره اړ شي کوم چې د سیمې مشرانو ورسره جوړ جاړی کړی دی. نو ځکه د ډموکراتیک سیاست دغه برابر خصلت د هیواد ټولو وګړو ته د بیلګې په توګه د سواد د کچې یا لوټ مارو قوماندانانو ته د نالوستو کسانو د بالقوه اړتیا د په پام کې نیولو پرته د رایې ورکولو یوشان حق ورکوي، چې دا کیداې شي ستونزمن ثابت شي. د دی ټکې ته په پام سره، دا تل ستونزمنه ده چې پړه په کلتور واچو په ځانګړې توګه د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې باید بیلابیل خلک په نظر کې ونیول شي. دا هم اړینه ده چې د رایې ورکونې پر ډولونو د ټاکنو د سیستم اغیزې هم په پام کې ونیسو. او په دې توګه دا به ولیدل شي چې د واحدې او دنه لیږد وړ رایې د نوماندانو لپاره پر هڅونکو ټینګار کوي تر څو د رایو د ګټلو لپاره دې په ټول کلې کې کمپاین وکړي.[۱۳۷] په یوه انتخاباتی حوزه کې د زیاتو غړو د شتون له کبله نوماندې دې ته اړ نه دي چې په یوه ولایت کې داکثریت ملاتړ وګټي، بلکې باید د هغو نوماندانو په جمله کې راشي چې دهغه ولایت و په تناسب ډیرې رایې یې اخیستې وي. په دې ډول په خپله ولسوالی کې په یوه یا دوو کلیو کې د آشنایی پر بنسټ د ملاتړ تر لاسه کول کولای شي په ټاکنو کې د بریا لپاره د رایو د پوره شمیرې د تر لاسه کولو لامل شي. سر بیره پر دې که چیرې یو نوماند په یوه ټولنه کې د هغې سیمې له مخورو کسانو سره آشنایي ولري نو دوی کولای شي چې د همدې مخورتوب له مخې او د ځایي مشر په ملاتړ د آشنایې پر بنسټ، نوموړې مقام ته د وړتیا پر خلاف په ډله ایزه توګه ټولې رایې تر لاسه کړي.

په دې توګه په افغانستان کې د موافقې پر اساس د رایې ورکونې ګډ رسم چې آیا په ربښتینې توګه ډموکراټیک دی او که نه باید په همدې ډول تصدیق شي. سر بیره پردې د رسمي ټاکنیز سیستم د په پام کې نیولو پرته، په افغانستان کې که چیرې رایه ورکونکې وانګیري چې د ددوی د خوښې نوماند د بریالي ملاتړ لپاره ډله ایزه رایه ورکونه تر ټولو ښه لاره ده نو دوی به په ګډه دې کار ته ځانونه چمتو کړي. په ډیرو حالاتو کې اساسي شرط دا نه دی چې خلک څنګه رایه ورکوي، بلکی دا ده چې افغانان په ټول ملک کې کولای شی په انفرادی یا ډله ایزه توګه خپل ځانونه او خپلی ګټې په پام کې ونیسي داسې و انګیري چې په بشپړه توګه یې استازیتوب کیږي.

۱۳۷ ښځینه ښوونکې د کابل د ولایت څخه

# ۲. پایلې

ډموکراسي اکثره وخت د دولتونو د سیاسي، ټولنیز او اقتصادي پراختیا لپاره یو څرګند امتیاز بلل کیږي، او له همدې امله دی چې دغه ډول ډموکراتیزه کولو ته د یو غوره نړیوال عمل په توګه په پراخه توګه وده ورکړل شوې ده. دا حالت په افغانستان کې هم دی چې د جګړې وروسته د ډموکراتیزه کولو بهیر د ملي او نړیوالو فعالینو د پاملرنې مهم ټکی دی. او عاملانو تمرکز کړی دی. که څه هم چې د افغانستان په شرایطو کې د دغې اصطلاح معنا ته ډیره لږه پاملرنه شوې ده.

که څه هم چې ډیرو معلوماتو ته اړتیا ده، خو لومړنی کیفي څیړنه چې د افغانستان په دریو ولایتونو کې د دې موضوع په اړه تر سره شوې ده د یو شمیر لاملونو له کبله د ډموکراتیک کولو د اوسني بهیر څخه د خلکو د مخ په کمیدونکې ملاتړ څرګندونه کوي. لومړی، دا چې ډموکراسي د لویدیځ وګړنیزې لیبرال آزادۍ سره تړلې ده نو ځکه د افغانستان د مذهبي او فرهنګي نورمونو سره په واټن کې ده. که چیرې ډاسې وانګیرل شي چې په افغانستان کې لیبرال ارزښتونه تحمیل شوې دي نو پایله به یې د لویدیځ کلتور د یرغل په وړاندې د غبرګون په توګه په بشپړه توګه د ډموکراټیک بهیر نه منل وي. دویمه دا چې د هغو ښیګڼو او ګټو په اړه پراخه ناهیلي او بې باوري شته چې ډموکراسي یې راوړای شي، د قانون د حاکمیت او اقتصادي پراختیا په برخوکې د طمع شوې ودې نشتوالی، د هغو ناهیلیو سره تړلی دی چې لامل یې د امنیتی حالت خرابیدل دي. دا د هغو اندیښنو له امله زیاته شوې ده چې د ګڼ ګوندي سیالیو او سیاسي اپوزیسیونو هڅول د دې پر ځای چې د سولې او ټیکاو لامل شي، نا امني به زیاته کړي. دریم دا چې ډموکراتیک استازیتوب په ذاتي ډول ناقصه او نیمګړې ښکاري او د دې لامل هغه بې کیفایتي،او درغلۍ دي چې د رسمي استازیتوب پروسې او د ټاکل شوې استازیتوب تر اجرااتو لاندې بهیر کې نفوذ کوي. په پای کې په بنسټیز ډول د خلکو او دولت تر منځ اړیکه نه وي چې دغه ستونزه د رسمي ډموکراتیکو سازمانونو د تشکیل له لارې نه ده په ګوته شوې.

د دې لاملونو د شتون سره سره، د نوموړې څیړنې تر پوښښ لاندې دریو ولایتونو کې په ډموکراتیک بهیر کې د خلکو د ونډې په اړه پراخه لیوالتیا لیدل کیده. د ډموکراتیک ګډون او د حکومت د خود مختاري نظریې ته لا هم په درنښت کتل کیږي. چې دا د ۱۳۸۸کال د ټاکنو وروسته پایلو کې د باور وړ نه ښکاري. اوس دغه ټاکنې د خلکو د لږ ګډون اود درغلیو د تورونو له امله بد نامې شوې دي. خود حکومت په ټاکنه کې د ګډون لپاره د خلکو لیوالتیا په ټاکنو کې د رایه ورکونکو د ګډون له مخې چې پایلې یې له پخوا تاکل شوې وې او رایه ورکول د زیاترو خلکو لپاره یو ځانې ګواښ وو، نه شي اندازه کیدلای. په حقیقت کې د ډیرو افغانانو لپاره دغه ټاکنې په ټولیز ډول د ډوکراسۍ او د ډموکراتیکو اصولو آزموینه نه وه. هغه شمیر کسان چې ورسره د دې څیړنې لپاره مرکې شوې دي په دې باور دي چې د ډموکراتیک حکومت سیستمونو وده وخت نیسي او دغه بهیر په چټکې سره نشي پلې کیدلای. دا به د نړیوالې ټولنې د هغه د غړو لپاره چې غواړي د ۱۳۸۸کال ټاکنې په هیواد کې د ډموکراتیکې حکومتدارۍ تر ټولو اساسي عامل وبولي د پام وړ ټکی دی. په افغانستان کې ډموکراسي او د ډموکراتیزه کولو بهیر به اوږد مهاله او بې ثباته مګر ارزښتناک بهیر به وي ، او دا اړینه ده چې ډموکراسي یو ځل بیا د افغانانو د تعبیر سره سم تعریف شي.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړيا توګه تر لاسه کولای شئ:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار

کابل، افغانستان

ټليفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

برښناليک: areu@areu.org.af

برښنا پاڼه: www.areu.org.af